# فن الخطابه

## (د وینا فن)

لیکوال
مولوي فرید احمد صمدي

د الفلاح د لوړو زده کړو موسسې د شرعیاتو او قانون پوهنځي استاذ



مترجم: ابو زبیر حبیب زاده

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: aghalibrary.com

# فــن الخطـابه

لیکوال

مولوي فريداحمد صمدي

د ا کتاب دباور کتابتون ویب سایټ څخه ډانلود شوی دی

Bawar.net

BAWAR LIBRARY

بـــاور کتـــابتون

FB:Ezatullah.sultanzai

مسلم
خپرندویه ټولنه

## کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | فن الخطابه |
| لیکوال | :: | مولوي فریداحمد صمدي |
| خپرندوی | :: | مسلم خپرندویه ټولنه - جلال اباد |
| چاپ وار | :: | لومړی |
| کمپوز | :: | مصلح الدین حامد |
| چاپ شمېر | :: | ۱۱۰۰ |
| چاپ لړ | :: | ۱۷۷ |
| چاپ کال | :: | ۱۳۹٤ |

برېښنايي کوونکی عزت الله سلطانزی
دا کتاب باور کتابتون څخه ښکته شوی
Bawar.net

د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کېدو ځای
مسلم کتاب پلورنځی
پته: اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان
اړیکشمېرې: ۰۷۰٦۲٦۲٤٦۳-۰۷۷٦۰۰٦٤۱٦
برېښنا لیک: muslim-pub@yahoo.com

# لړلیک

موضوع | مخ

سریزه ........ ۱
خطابه څه شی دی؟ ........ ۴
د خطابې تعریف: ........ ۴
د خطابې د فن موضوع: ........ ۶
د خطابې د فن ګټې: ........ ۶
خطابې ته د لاس رسی لارې چارې: ........ ۷
د خطابې تاریخ ........ ۱۰
د خطابې اهمیت ........ ۱۲
د قرآن کریم د ایتونو په رڼا کې د خطابې اهمیت: ........ ۱۲
د نبوي سنتو په رڼا کې د خطابې اهمیت: ........ ۱۴
په اوسنی زمانه کې د خطابې اهمیت: ........ ۱۵
هغه څه چې خطیب باید ترې ځان وساتي ........ ۱۷
په وعظ او خطابه کې سجع او اشعار ........ ۱۸
په خطابه کې د اشعارو وړاندې کول: ........ ۲۰
د وعظ مراجع ........ ۲۴
په وعظ کې د مثالونو وړاندې کول ........ ۲۶
د جاهلیت په دور کې خطابه ........ ۲۸

# لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د عربو خطبې دوه ډوله وي: | ۲۸ |
| خطابه په اسلام کې | ۳۰ |
| د خطابې جوړښت | ۳۲ |
| مقدمه | ۳۲ |
| مقصد او موضوع | ۳۴ |
| هغه شیان چې مقصد او موضوع کې یې راوړل غوره دي | ۳۹ |
| هغه څه چې مقصد او موضوع کې یې راوړل ضروري دي | ۴۱ |
| خاتمه | ۴۲ |
| د یوې غوره خطبې ځانګړتیاوې | ۴۴ |
| هغه سلبیات چې د جمعې خطبه کې باید ترې ځان وساتل شي | ۴۷ |
| د خطبې تیارول (اماده کول) | ۵۷ |
| د یو بریالي خطیب ځانګړتیاوې | ۶۰ |
| د خطبو ډولونه | ۶۹ |
| د روحیاتو اړوند خطبو ځینې موضوعات | ۷۰ |
| د اخلاقو اړوند خطبو ځینې موضوعات | ۷۱ |
| د نبي کریم صلي الله علیه وسلم د سیرت په اړه موضوعات | ۷۲ |
| د عقیدې اړوند خطبو ځینې موضوعات | ۷۴ |
| د ټولنیزو (اجتماعي) اړیکو اړوند خطبو ځینې موضوعات | ۷۵ |
| د کورنۍ ژوند برابرولو اړوند خطبو ځینې موضوعات | ۷۶ |
| د سیاسي پوهې اړوند خطبو ځینې موضوعات | ۷۷ |

# لړلیک

موضوع — مخ


د ځينو غوره خطبو بيلګې ........ ۷۹
حجة الوداع خطبة: ........ ۷۹
د ابوبکر رضي الله عنه خطبه: ........ ۸۱
د عمر رضي الله عنه خطبه: ........ ۸۲
د عثمان رضي الله عنه خطبه: ........ ۸۳
د علي رضي الله عنه خطبه: ........ ۸۵
ماخذونه ........ ۸۷

## سریزه

الحمد لله نحمده، و نستعینه و نستغفره، و نعوذ بالله من شرور آنفسنا ، و من سیئات اعمالنا من یهد الله فلا مضل له، ومن یضلل فلا هادي له و آشهد آن لا اله الا الله وحده لاشریک له، و آشهد آن محمداً عبده ورسوله، صلی الله علیه و علی اله وصحبه وسلم تسلیما.
امابعد: کله مې چې د الفلاح د لوړو زده کړو مؤسسې د شرعیاتو په پوهنځي کې د استاد په توګه دنده واخیسته، دلته په پنځم سمستر کې د خطابي مضمون راته د تدریس لپاره راکړل شو، د دې مضمون په اړوند چې د لوړو زده کړو د وزارت له خوا کوم مفردات تاکل شوې وه، هغې کې داسې کتاب نه وو موجود چې همدغه مفردات یې په همدې ترتیب سره ذکر کړي وي، نو ومې غوښتل چې د محصلینو د اسانتیا او هغوی ته د زیاتې ګټې رسولو په خاطر د خطابي د ګڼو کتابونو څخه استفادي کولو سره یوکوچنی کتاب دوی ته تیار او اماده کړم، چې زما د دې هڅو بیلکه ستاسو په لاسونو کې ده ، د خطابي فن یو لوی فن دی، ډېر کتابونه په کې لیکل شوي دي، خو څرنګه چې دغه فن زمونږ د سیمې مدرسو کې ډېر کم تدریس کېږي،

نو په همدې اساس د سيمې کتاب پلورنځيو کې د دې فن کتابونه ډېر کم پيدا کېږي، ماسره د دې فن اړوند دوه کتابونه موجود وه، يو کتاب (الخطابة و البحوث) چې د رابطة العالم الاسلامي د اشراف لاندې (المعاهد التربوية) ادارې له خوا نشر شوی او د دويم يې (كيف تكون خطيبا) د ا د عبدالرحمن خليف تاليف دی، او نور کتابونه لکه (الخطابه، اصولها وتاريخها في ازهر عصورها عند العرب) د امام محمد ابوزهره تاليف چې (٢٨٠) صفحو کې ليکل شوی، او (هداية المرشدين الى طرق الوعظ و الخطابة) د شيخ علي محفوظ تاليف چې (٥٣٥) صفحو کې ليکل شوی، او (فن الخطابة و اعداد الخطيب) دا هم د شيخ علي محفوظ تاليف دی چې (١٨٨) صفحو کې ليکل شوی، او (التاثير في الجماهير عن طريق الخطابة) د ډيل کارنګي تاليف دي چې د انګليسي څخه عربي ته (المزي يسي) او عزت فيهم صالح) دی دواړو ژباړلی دی، دغه کتابونه مې د انټرنيټ څخه لاس ته راوړل او د کتاب برابرولو کې مې ترې ګټه واخيستله.

څرنګه چې موضوع پراخه، زړه راښکونکي ده او په اوس وخت کې ورته اړتيا هم زياته ده وم، غوښتل چې د دې کتابونو ټول موضوعات پښتو ژبې ته وژباړم خو د وخت کم والي او درسي مهال ويش راته اجازه نه راکوله چې بحث اوږد کړم، نو په دغه اندازه کتاب چې ستاسې په مخ کې قرار لري په همدې مې بسنه او اکتفاء وکړه هيله مند يم چې د منلو وړ مو وګرځي ، او د الله تعالی څخه سوال کوم

چې زما دغه عمل د خپلې رضا او زما د بښنې سبب وګرځوي، او الله تعالی دې مونږ او تاسو ټولو ته د دې توفیق راکړي چې په سمه او مناسبه طریقه د الله تعالی د دین دعوت سرته ورسوو.

امین یا رب العالمین

فرید احمد (صمدي)

دالفلاح د لوړو زده کړو د مؤسسي د شرعیاتو د پوهنځي استاد

۱۵/ رمضان المبارک/ ۱۴۳۵

## خطابه څه شی دی؟

د خطابې لپاره ګڼ شمېر تعریفونه ذکر شوي دي، په دې کې ځینې تعریفونه داسې دي چې د خطابې ټولو انواعو او جزیاتو ته شامل نه دي او ځینې یې داسې دي چې مانع نه دي، د دې ډېر څرګند او غوره تعریف په لاندې ډول دي

**د خطابې تعریف:**

فن مخاطبة الجماهير بطريقة القائية تشتمل على الاقناع و الاستمالة.

ژباړه: ډېرو خلکو ته خطاب کول دي، چې د بیان په طریقه ترسره کېږي ، چې دغه خطاب د هغوی قانع کولو او مایله ګرځولو باندې مشتمل وي، اوس د تعریف هر یو جز په تفصیل سره څېړو:

**۱ - خطاب به ډېرو خلکوته وي:**

ځکه که څوک یو تن یا دوه تنو ته خبرې کوي، عادت دا دی چې دا د خطابې لهجې ته اړتیا نه لري، او دا ورته کفایت کوي چې خپل نظر ورته په عادي اواز سره شرحه کړي په ټولو خبرو کې دا یوه پېژندل شوي طریقه ده ، لکه تدریس او نور علمي بحثونه وړاندې کول، دې ته خطابه نه ویل کېږي

**۲ - د بیان طریقې سره به وي:**

یعنې لوړ اواز سره به وي، او معناګانې به مجسمي ذکر کوي، او په خلکو به تاثېر غورځوي، او د دې د مکملاتو څخه دا دي چې لاسونو سره به اشارې کوي، دا ټول هغه شیان دي چې د اورېدونکو توجه پرې بیان پلو ته ګرځول کېږي

**۳- دا وینا به قناعت ورکوونکي وي**

یعنې دلیلونو باندې به بناء وي، کوم څه ته چې خلک رابلي، هغه باید دلیلونو سره ثابت کړي، کومه خطبه چې د دلیلونو څخه خالي وي، هغه د رایې د څرګندونې پرته بله فایده او ګټه نه لري، کومه خطبه چې دلیلونو باندې بناء نه وي هغه بې کاره خطبه ګڼل کېږي ځکه هغه غرض ترې په لاس نه راځي چې د هغې د تحقق لپاره خطبه ویل شوي وي، او دغه دلیلونه باید پوره او واضحه شرحه شي، تر څو د اورېدونکو په غوږونو او زړونو کې ځای ونیسي.

**۴- په خطبه کې به د میلان پیدا کولو عنصر موجود وي؟**

یعنې د اورېدونکو پاملرنه به هغې رایې طرف ته راګرځوي چې د هغې لپاره خطبه ویل کېږي. ځکه اورېدونکي کله یو فکر باندې قانع کېږي ، خو دې ته یې مخه نه وي کړي چې دغه فکر او نظریه خپل ژوند کې عملي کړي، نو خطبه کې به داسې شیان ذکر کېږي چې د دغو اورېدونکو میلان را جلب کړي، او کوم نظرونه چې لري هغې ته عملي جامه واغوندي. دا د خطبې مهم عنصر دی ځکه دې سره د خطبې مطلوب غرض په لاس راځي ، تاسو وګورئ کوم کسان چې غلا کوي، امانتونو کې خیانت کوي، چغلي کوي او داسې نور کسان چې بد عملونه ترسره کوي، دوی ټول د دغو کړنو په فساد باندې پوهېږي او بد ورته وایي، خو د دې سره بیا هم دغه کارونه ترسره کوي، او که د دې څخه لې پورته ولاړ شو، دروغ ویونکي انسانان کله کله د دروغو د ضررونو او دهغې د بدي پایلې بیان د وعظ کوونکي څخه هم په ښه توګه کوي، خو د دې سره بیا هم دروغ وایي، نو خطبه

کې باید دې تکې ته زیاته پاملرنه وشي ترڅو دغه خلکو کې د میلان ماده پیدا شي، او خپلو کړنو ته توجه وکړي او ځانونه ترې وساتي.
خو کله ځینې خطبي داسې وي چې د میلان پیدا کولو عنصر ته په کې ضرورت نه وي، کله یو عالم ډېرو خلکو ته یوه علمي نظریه تشریح کوي، نو دغه خطبه د مایله ګرځولو عنصر ته اړتیا نه لري، خو خطبه به یې پوره قانع کوونکو دلیلونو او ښه استدلال باندې مشتمله وي، خو دا ډول بیان د خطبي تعریف کې داخل نه دی، د مدرسینو کړنه د دې ډول څخه ده، ځکه په دې کې ډېرو ژورو او علمي مسایلو باندې بحث ترسره کېږي، او په خطبه کې ډېرې ژورې مسئلې نه څېړل کېږي، یوه وجه یې دا ده چې مسجدونو او عامو ځایونو کې ډول ډول خلک موجود وي، چې ځینې یې په دغو دلیلونو او مسایلو باندې نه پوهېږي.

## د خطابي د فن موضوع:

ابن رشد د ارسطو څخه نقل کړي ویلي یې دي: خطابه کومه ځانګړې موضوع نه لري، چې د هغې څخه بحث وکړي او د هغې ذاتي عوارض وڅېړي، ځکه ټول علمونه لوی وي او که واړه وي دې فن ته اړتیا لري، او په ټولو کې دغه فن د اهمیت وړ دی، او ټول علمونه او فنونه د خطابي د حکمت لاندې راځي.

## د خطابي د فن ګټې:

ابن رشد د ارسطو څخه نقل کړي ویلي یې دي: ټول انسانان داسې نه دي چې ټولو سره دې د دلیل او برهان په ژبه خبرې وشي، او د هغه نظریو په باره کې چې د دوی څخه غوښتل کېږي چې عقیده پرې

ساتي دليل او برهان ورته وړاندې شي، ځکه ځينې انسانان داسې دي چې يوائځې مشهور شيان پېژني، کوم چې دوی په خپل ژوند کې ورسره مخ شوي دي، هغه چې په هيڅ دليل بناء نه دي، نو که دوی سره دغه بديهيات وڅېړل شي، او دغو مشهورو شيانو په باره کې ورسره خبرې وشي، نو کېدای شي په اسانۍ سره قناعت وکړي. او که دليل او برهان ورته وړاندې شي ، نو د دې ډېر امکان شته چې سر به يې پرې خلاص نشي، ځکه ماغزه يې د برهان او دليل سره اشنايې نه لري ، او د خطابې وخت هم ډېر کم وي نو په دومره کم وخت کې ممکن نه دي، چې د دليل او برهان وړاندې کولو څخه وروسته د دوی څخه هغه هدف ترلاسه کړو چې د مخه مو ټاکلي دي. چې هغه ځانګړو نظريو باندې د دوی تصديق لاس ته راوړل دي، دوي ته منطقي دليل وړاندې کول کومه ګټه نه لري، د دوی د قناعت لاس ته راوړلو لپا ره خطابه غوره لاره ده، ځکه په دې کې زيات وخت پيچلې منطقي دليلونه نه وړاندې کېږي، بلکې اسانه، ساده او عام فهمه دليلونه په کې کارول کېږي، کومو باندې چې ټول انسانان پوهېږي، دا د خطابې د ټولو ګټو څخه لويه ګټه ده، او د دې غوندې نورې ډېرې ګټې لري، چې د فن خطابې په کتابونو کې په تفصيل سره ذکر شوي

**خطابې ته د لاس رسۍ لارې چارې**

په دې کې شک نشته چې خطابه يو لوی او لوړ منصب دی، رسېدل ورته اسانه کار نه دی، ډېر کوښښ او لويه توښه غواړي، د دې د لاس ته راوړلو ځينې لارې چارې په لاندې ډول ذکر کېږي

**۱- د داسې فطرت او سليقې شتون چې د خطابې سره برابر وي.**

د خطابې او وينا اړوند عيبونو څخه پاکوالی، د حروفو د مخرجونو صحت، په فطري ډول د فصاحت او بلاغت د صفتونو موجوديت، د زړه ثبات او ذکاوت، جراءت او زړورتيا ، لوړ اواز او داسې نور د وينا اړوند غوره فطري صفتونه.

**۲- د خطابې د اصولو زده کړه :**

د خطابې د اصولو زده کړه به کوي، او دې زده کړې سره دا ضروري ده، چې د دغه اصولو عملي تمرين هم وکړی شي.

**۳- د بلاغت د علماوو ويناوې لوستل:**

د بلاغت د علماوو د اقوالو لوستل او د هغو خطيبانو د خطبو يادول چې د بلاغت علم ته لوی لاس رسی لري، ځکه دوی الفاظ او کليمې خپلو ځايونو کې ګڼو تعبيرونو سره وړاندې کوي، او دې سره د بلاغت د علم د اسرارو څخه ځان خبرول، ځکه دې کې د وينا غوره طريقې او ښکلي تعبيرونه شتون لري.

**۴- ټولو هغو علمونو څخه ځان خبرول چې ټولنو پورې تړاو لري:**

لکه شريعت، اقتصاد ، اخلاق ، روح پيژندنه ، اديان ، عقايد ، او داسې نور ... ځکه دغه علومو باندې پوهه د خطيب فکر ته وده ورکوي، او ټولو کارونو کې بصيرت ور په برخه کوي.

**۵- د ډېرو الفاظو، کلمو، او اساليبو (طريقو) لويه پانګه درلودل :**

ډېر الفاظ او کليمې يې زده وي چې وکولی شي يوه معنا ګڼو الفاظو او ګڼو تعبيرونو سره وړاندې کړي، چې دغه کړنه اوريدونکو باندې ښه اثر لري.

**۶. مضبوط زړه، او د ستونزو مقابله او تحمل**

خطابه د خطر ځنځه ډک منصب او کار دی، د ېر ځلې دې کې ګڼ ډول واقعات رامنځ ته کېږي، کله د خطيب د خطابې پر وړاندې خلک راپورته کېږي، او ډول ډول دريځونه غوره کوي، کله خبره دې ته ورسېږي، چې ځينې خلک خطيب پسې توکې پيل کړي ا و کنځلې ورته وکړي او د وهلو ګواښونه ورته وکړي، نو په دغه وخت کې خطيب بايد ثابت قدم او د ثابت زړه څښتن وي، او د ستونزو او مشکلاتو د مقابلې او تحمل توان ولري. که دغه صفتونه په کې شتون ونه لري، نو بيا نه شي کولی چې خپلو ټاکلو او مطلوبو اهدافو ته ورسېږي

## د خطابي تاریخ

دا پېژندل شوی حقیقت دی، چې خطابه ډېر پخوانی تاریخ لري، د انسان د پیدایښت سره یو ځای هغه کې د خطابي استعداد منځ ته راغلی دی، ځکه انسان دې ته اړتیا لري هغه څه چې د ده په ضمیر کې دي هغه نورو ته ځرګند کړي، او هغوی ته دلایلو سره د خپلې وینا ریښتینوالی ثابت کړي، او دا هم ځرګنده ده چې انبیاء علیهم السلام او رسولانو علیهم السلام د الله تابعداري، یووالی، او سمې لارې ته د خلکو د لارښوونې د دعوت په لار کې په دې کې پوره ونډه او لوړ مقام درلوده، لکه الله تعالی چې خپل کتاب قران کریم کې د دوی واقعات ذکر کړي دي، او د زمانې تېریدلو سره د دوی د دې اثارو څخه د تورات خطبې پاتې دي، کومې چې د بني اسرائیلو انبیاوو علیهم السلام بني اسرائیلو ته وړاندې کړي دي.

یونانیانو او رومیانو خطابي ته حسن او ښکلا ور وبخښله، خطابه د یونانیانو لومړنیو دولتونو، او سیاسي ښخړو په وخت کې ځرګنده شوه، دغه سیاسي حرکتونه او ښخړې ټولې د خطابې په ژبه ځرګندې شوې وې، او په همدې باندې به حل او فصل کېدلې، په دې وخت کې ډېرې خطبې ذکر شوې دي چې په هغې کې دوی د خپلو خدایانو او نومیالیو صفتونه ذکر کړي دي، دا د میلاد څخه مخکې وو.

خو خطابې چې ډېره ښکلې جامه ترلاسه کړه هغه د میلاد څخه مخکې د پنځم قرن په وروستنیو کې وه، په دغه زمانه کې یونانیانو ته د اثینا مشر په ټولو خطیبانو کې ډېر محبوب وو، بیا په دې وخت کې نور خطیبان را ځرګند شول لکه: «ایسوقراطیس» دا مخکې د

دې چې د (اثینا) خلک یې وېښتني یو کمزوري سړی وو ، تیټ اواز یې درلوده، ژبه کې یې چالاکې نه وه، خو کله چې ده اراده وکړه چې ځان ځخه خطیب جوړ کړي، د خپلې حنجرې د قوي کېدو او خپل اواز لوړولو په خاطر به یې د غرونو د پاسه او د دریابونو په غاړو کې په لوړ اواز چغې وهلي، چې اواز یې د موجونو د اواز ځخه پورته شي، د دې ځخه وروسته یې ځینې حرکتونه چې خطیب ورته اړتیا لري، او د خلکو وړاندې ودرېدل زده کړل، بیا یې د خطبې وړاندې کول پیل کړل تر دې چې د لویو خطیبانو ځخه وګرځېده.

په لومړي ځل چې د خطابې قواعد یې تدوین کړي دي د یونان د فیلسوفانو ځخه درې کسان دي، دوی د میلاد ځخه د مخه د ځلورم قرن په وروستیو او پنځم قرن په لومړیو کې د دې قواعد تدوین کړل، دغه درې تنه (بروديكوس) ، (پرتا عورس) بیا وریسې (غورجیاس) دی بیا د یونان د فیلسوفانو مشر ارسطو راغی د دې فن کوچنۍ او لویه یوه مسئله یې هم پرېښوده مګر په خپل کتاب (الخطابه) کې یې نشر ته وسپارله، د دې وخت ځخه وروسته خطابه یو تدوین شوی فن وګرځېده

# د خطابې اهمیت

## د قرآن کریم د ایتونو په رڼا کې د خطابې اهمیت

قران کریم په ډېرو ځایونو کې د دعوت او رسالت سره د بیان او وینا ترمنځ د اړیکو یادونه کړې ده، چې اسلامي دعوت کې بیان او وینا غوره برخه لري او انسان باندې یې د دې زیادنه کړې ده چې الله تعالی د هغه په بدن کې یو داسې غړی پېدا کړی، چې د هغه په واسطه کولی شي خپل مراد په ښه ډول څرګند کړي همدغه ژبه ده چې د انسان د ضمیر څرګندونه کوي الله تعالی د خپل د دغه نعمت یادونه داسې کړې ده چې د انسان د ضمیر څرګندونه کوي الله تعالی د خپل د دغه نعمت یادونه داسې کړې فرمایلې یې دي

﴿ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ﴾ .(البلد:۸)

ژباړه ایا مونږ هغه ته دوه سترګې نه دي ورکړي.

د دې نعمت قدر او اهمیت باندې هغه څوک ښه پوهېږي چې د دغه نعمت څخه په کلي او یا ضروري توګه محروم ګرځول شوی وي.

تاسو وګورئ کله چې موسی علیه السلام فرعون ته دعوت ورکړ فرعون د هغه په ژبه باندې اعتراض وکړ، د موسی علیه السلام په ژبه کې دروندوالی موجود و قران کریم د فرعون دغه اعتراض داسې رانقل کړی

ام اناخیر من هذاالذي هو مهین ولا یکاد یبین.

نو هر کله چې دغه اعتراض رامنځ ته شو او الله تعالی موسی علیه السلام ته امر وکړ چې فرعون او د هغه کسانو ته د توحید دعوت

وراندې کړي نو دغه وخت کې موسى عليه السلام د الله تعالى څخه د دې غوښتنه وکړه چې هارون عليه السلام دې د ده مرستيال وټاکي الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَارُونَ ﴾ .(الشعراء:١٣)

ژباړه زما سينه تنګيږي او زما ژبه نکرځي. ته هارون ته رسالت وليږه

او بل ځای کې قران کريم دغه غوښتنه داسې ذکر کړي.

الله تعالى فرمايلي:

﴿ وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي ۖ إِنِّي أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴾ . (القصص:٣٤)

ژباړه او زما ورور هارون له مانه زيات خوله وردی هغه له ماسره د مرستيال په توګه وليږه ترڅو چې هغه زما تائيد وکړي زه ويريږم چې هغوی به ما دروغجن وګڼي.

الله تعالى يې دغه غوښتنه قبوله کړه الله تعالى فرمايلي:

﴿ قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَىٰ ﴾ . (طه:٣٦)

ژباړه ويې فرمايل اى موسى، څه چې دې وغوښتل درکړای شول.

ژبه باندې بيان او ځرګندونه د الله تعالى لوري ته د دعوت کولو لومړنی وسيله ده.

الله تعالى فرمايلي:

﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ ﴾ .(ابراهيم:٤)

ژباړه: مونږ چې د خپل پيغام رسولو لپاره کله کوم پيغمبر لېږلی دی، هغه ته مو هماغه د خپل قوم په ژبه پيغام ورکړی دی چې هغه په ښه شان په روښانه توګه هغوی په خبره پوه کړي

تول انبياء عليهم السلام خپلو قومونو ته د هغوی په ژبه دعوت کولو باندې استول شوي وه د دې وجه دا وه چې هغوی ته دعوت په ښه او څرګند ډول وړاندې کړي.

**د نبوي سنتو په رڼا کې د خطابي اهميت:**

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وړاندې خطابي ډېر اهميت درلوده، دغه اهميت يې د دې څخه څرګندېږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله خطبه وړاندې کړي او د دې لپاره چې خطبه يې ښه مؤثره شي نو د جمعې د خطبې لپاره يې منبر کېښود چې خلکو ته خطيب په څرګند ډول ښکاره شي او په خبرو يې خلک ښه پوه شي صحيح بخاري کې امام بخاري د دې لپاره باب کيښودلی دی ويلي يې دي (باب الخطبة علی المنبر) او د دې باب لاندې يې د جابر رضي الله عنه حديث راوړی دی، چې په لومړي وخت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې کله خطبه وړاندې کوله د کجوري يوه تنه وه په هغې به کېناسته او خطبه به يې ويله، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم منبر جوړ کړ، نو د کجوري دې تني به اواز سره ژړا کوله بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د منبر څخه راکوز شو او په دې تني باندې يې لاس کېښود هغه غلې شوه د دې حديث څخه د منبر د استعمال استحباب معلومېږي ، ځکه چې دا د خطيب په ليدلو او د هغه د اواز ښه اورېدلو کې غوره برخه لري

إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ كُلُّ مُنَافِقٍ عَلِيمِ اللِّسَانِ
ژباړه زما سره چې د دې امت باره کې کومه ویره ده هغه د هر هغه منافق څخه ویره ده چې د ژبې مهارت ولري
رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت باندې د دې څخه ویره لرله چې داسې منافقان ورته لار پیدا نه کړي چې د ژبې مهارت ولري هغه منافق چې د ژبې له پلوه ماهر وي نو څرګندې وینا او ژورو عبارتونو په واسطه خلکو کې د خپلو بدو خیالاتو اثر زړونو باسي

**په اوسني زمانه کې د خطابې اهمیت**

په اوسني زمانه کې خطابه ډېر ارزښت او اهمیت او د اسلامي دعوت دعوت کوونکي ورته ډېره اړتیا لري چې ځینې یې په لاندې ډول ذکر کوو

۱- نن اسلامي علماء او دعوت کوونکي د دین دښمنانو سره مخامخ دي د خطابې فن ښه زده کړی دی او د خطابې په وسیله اوریدونکو ته خپل دعوت په ښه توګه رسوي، په هر ځای کې خلکو ته په مختلفو ذریعو خپل پیغام رسوي دې لپاره د ټولو میډیایي ذرایعو څخه ګټه اخلي

۲- او د مسلمانانو حال ته چې پاملرنه وکړو ډېري د دوی د دین څخه لرې واټن کې واقع دي، اسلامي عقایدو او شریعت ته پاملرنه نه کوي نو د ژوندانه په ټولو اړخونو کې یې فساد لار او ځای موندلی دی نو د همدې امله نن د خطابي فن ته ډېره پاملرنه په کار ده چې د دغو بې خبرو مسلمانانو مغزو ته پوره مهارت سره د دین دعوت ورسته شي

۳ مسلمانانو کې ډېر نفساني ناروغیو ځای نیولی د دې علاج دا دی

چې د دوی روح ته خواره برابر شي ، نو دا خواره هغه وخت برابرېږي چې په ښه او ځرګند ډول وېناوې وراندې شي او د داسې مهارتونو څخه کار واخېستل شي چې د دوی د قناعت وړ وګرځي.

۴- د اسلام د مقابلې لپاره د اسلام دښمنانو د دغه فن د زده کولو لپاره په هر ځای کې مدرسې او معهدونه جوړ کړي چې د دې څخه خلک د نړۍ هېوادونو ته استوي چې د دوی کفري او اسلام دښمنه اهداف خلکو ته په ماهرانه توګه ورسوي، نو مسلمانانو ته هم په کار دي، چې د دوی مقابله وکړي او د وینا کولو ټول قواعد زده کړي ترڅو په نړۍ کې د اسلامي دعوت خپرولو کې ترې ګټه واخلي.

## هغه څه چې خطیب باید ترې ځان وساتي

۱. خطیب ته جایز نه دي چې د علم کلام ژورو موضوعاتو ته وردننه شي لکه د قیامت په ورځې د الله تعالی د لېدلو موضوع، د بندګانو د افعالو د خلقت موضوع، او د داسې نوري موضوعګانې، چې دې سره د عامو خلکو په عقایدو کې خلل او شبهې پیداکېږي بلکې صحیح دا دی چې دوی ته په ساده ژبه د اسلام عقاید او د اسلام ضروري مسایل بیان کړي.

۲. خلکو ته داسې څه وړاندې کول چې د خلکو عقلونه ورته نه رسېږي لکه زمونږ په هېواد کې چې زمونږ ځیني خطیبان صاحبان په خپلو خطبو کې ډېري د عربي ژبې الفاظ او د ژباړې پرته وړاندې کوي چې خلک یې په معنی او مقصد باندې نه پوهېږي.

۳. شرعي الفاظ د خپل ظاهر څخه اړول او داسې تاویلات په کې کول چې خلکو ته یې درک ستونزمن وي.

## په وعظ او خطابه کې سجع او اشعار

عربي منثور کلام کې سجع عبارت ده په یو حرف باندې جملې پای ته رسول لکه قران کریم کې چې راغلي:

﴿ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴾.(العاشیه:۱۳)

ژباړه: په هغه کې به لوړ د ناستې تختونه وي.

او بل ځای کې راغلي دي:

﴿ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ۝ وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴾.( نوح: ۱۳-۱٤)

ژباړه: پرتاسې څه شوي دي چې د الله تعالی لپاره تاسې د هیڅ عزت په فکر کې نه یئ؟ په داسې حال کې چې هغه تاسې ډول ډول پیدا کړي یئ

او دا د عربو د مبلغانو او د وړاندینیو واعظانو لکه علي رضي الله عنه ، حسن بصري رحمه الله او ابن جریر رحمه الله د دوی په وینااو کې ډېر تر سترګو کېږي دا سجع بیا په دوه ډوله ده:

۱- ښه سجع

۲- قبیحه سجع .

۱- ښه سجع هغه ده چې لاندې درې شرطونه په کې موجود وي.

لومړی شرط: چې د تکلف څخه لرې دي.

دویم شرط: دا چې هره یوه سجع د تېرې معنی څخه مغایرت ولري.

درېیم: دا چې الفاظ یې خواږه او ذوق څخه ډک وي.

۲- او قبیح سجع هغه ده چې پورته شرطونه په کې موجود نه وي، لکه: د کاهن وینا: والسماء والارض والقرض والقرض. ځکه په دې کې

تکلف موجود دی او غه ډول سجع نبي کریم صلی الله علیه وسلم بده ګڼلي ده.

ازهري رحمه الله وايي دي: کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغه بچي تاوان وټاکه کوم چې د مور په ګېډه کې مړ شوی وو چې مور يې بلې ښځې وهلي وه او دغه ماشوم تري مړ منځ ته راغلی وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه ماشوم تاوان د وهونکي ښځې وارثانو باندې مقرر کړو د دغو وارثانو څخه يو تن وويلي:

کیف ندی من لاشرب ولا اکل ولاصاح فاستهل، ومثل ومه يطل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: اياکم وسجع الکهان.

د کاهنانو د سجعي څخه ځانونه وساتئ.

او سجع شرعاً مکروه ده په نفس باندې درنده پرېوځي اګر که په دعاء کې هم وي د عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه کاتب (ليکونکي) ته وويل: اياک والسجع فان النبي صلی الله علیه وسلم واصحابه لايسجعون.

ځان د سجعې څخه وساته ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابه وو کرامو به سجع نه کوله.

پورته بيان ټول په دې باندې دلالت کوي چې کله په سجع کې تکلف وي جايز نه ده او که د تکلف څخه خالي وي او د دعوت کوونکي د فصاحت له وجې وي نو بيا په کې څه ستونزه نشته بلکې ښکلی عمل دی او په دې باندې د عبدالله بن ابي اوفی رضي الله عنهما روايت کوم چې صحيحينو نقل کړی دلالت کوي: هغه د رسول الله صلی الله علیه

وسلم وړنا نقل کړي چې فرمایل یې:
« اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، وَمُجْرِيَ السَّحَابِ، وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ، اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ» دې وړنا کې د سجعې څخه کار اخېستل شوی دی او همدارنګه بخاري د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روایت نقل کړی دی هغه ویلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم به حسن او حسین ته پناه غوښتله داسې به یې فرمایل:
أُعيذ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ.
(صحيح ابن خزيمه)

د دې څخه په دعاء کې د هغې سجعې جواز څرګندېږي چې تکلف په کې نه وي او داچې په دعاء کې تکلف باندې بناء سجعې څخه منعه راغلي د دې منعې راز دا دی چې دې سره دعاء کې خشو او خضوع له منځه ځي، او کومه سجع چې تکلف باندې بناء نه وي هغه جایز ده لکه یو واعظ چې ویلي:
یایهاالمغرور بالسلامة، ما اعددت لیوم القیامة یوم الحسرة والندامة، یوم یجعل الولدان شیباً، یوم یدع المسرور کئیباً الدنیا دارتجارة، فالویل لمن تزود منها الخسارة.
نو دغه ډول سجع چې د تکلف څخه خالي وي دا جایز ده.

## په خطابه کې د اشعارو وړاندې کول:

شعرونه ډېر په مذموم مقاماتو کې کارول شوي وي، الله تعالی د عامو شاعرانو په باره کې فرمایلي دي:
﴿ وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُنَ ﴾. (الشعراء، ۲۲٤)

ژباړه: پاتې شول شاعران په هغو پسې غولیدلي ګمراه شوي خلک ځي.
او بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:
﴿وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ﴾.(یس:٦٩)

ژباړه: مونږ دغه پیغمبر ته شعر نه دی ورزده کړی او نه شاعري له ده سره ښایيږي.
خو بیا هم علماء د شعر په مدحي او ذم کې اختلاف کړی دی، دې کې غوره فیصله امام شافعي رحمه الله کړي ده، امام شافعي رحمه الله څخه د شعر په باره کې پوښتنه وشوه، هغه وویل: الشعر کلام حسنه حسن قبیحه قبیح.
ژباړه: شعر یوه وینا ده ښه یې ښه ده او بده یې بده ده، د عایشې رضي الله عنها څخه هم همداسې روایت نقل شوی دی.
خو ډېری شاعران د عشق ښکلا، معشوقي، وصال صفتونه کوي او بېلتون او جدایې څخه سر تکوي، نو ښه خبره ده چې خطبه کې هغه شعرونه وړاندې شي چې ظاهري او باطني معنی یې یوه وي ظاهر او باطن دواړو کې د خلکو ذهنونه دین طرف ته اړوي ، داسې نه وي چې ظاهري معنی څخه یې عشق، دنیوي مینه او محبت څرګندیږي خو که په باطن حمل شي بیا ترې د یني معنی اخیستل کیږي، ځکه خطابه عام مجلس کې وړاندې کیږي دې کې عام خلک موجود دي او د ټولو خلکو زړونه د شهوتونو څخه ډک دي، نو که خطیب یو داسې شعر وړاندې کړي چې د ظاهري معنی په لحاظ ترې عشق معلومیږي خو خطیب یې د دې لپاره وړاندې کړي چې باطني معنی کې یې صحیح

معنی پر ته ده، نو داسې شعر وړاندې کول جایز نه دي
او اوس چې په دیني جلسو، مسجدونو او نورو غونډو کې کوم نعتونه او ترانې وړاندې کېږي دا خو ټولې د سندرو په طرزونو باندې جوړې شوي دي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منبر څخه یې نعت خوانان وړاندې کوي او لوی لوی عالمان ورته ناست وي، نو تاسې فکر وکړئ ایا چاچې دغه سندره اورېدلي وي د کومې په طرز چې دغه نعت جوړ شوی نو ایا دوی ترې په مسجد کې دننه د هماغې سندرې خوند نه اخلي؟ خامخا ترې هماغه خوند اخلي، زما په اند دا هم د اسلام د دښمنانو یو دسیسه ده چې په غیر مستقیم ډول یې زمونږ مسجدونو او دیني غونډو ته د موسیقۍ یوه برخه رادننه کړه، ځکه سندره د شعر، طرز او د موسیقۍ د وسایلو څخه عبارت ده، او مهم شی په کې طرز دی کوم ته چې کمپوز ویل کېږي د سندرې دا برخه یې مسجد ته رادننه کړه، د دین عالمان باید دې ټکې ته ژوره پاملرنه وکړي.

نو واعظ باید هغه شعر وړاندې کړي چې د ظاهر په اعتبار خلکو ته په کې دیني لارښوونې موجود وي
لکه امام شافعي رحمه الله شعر:

| | |
|---|---|
| دع الایام تفعل ماتشاء | وطب نفساً اذا انزل القضاء |
| ولاتجزع لحادثة اللیالي | فما لحوادث الدنیا بقاء |
| اذا ما کنت ذا قلب قنوع | فانت ومالک الدنیا سواء |

ژباړه: زمانه پرېږده چې څه یې اراده وي هغه وکړي، ته خپل ځان د فیصلې وخت ته اماده کړه، د دنیا د حوادثو له امله فریاد مه کوه،

ځکه د دنیا حوادث بقا نه لري، که ته د یو قناعت لرونکې زړه څښتن یې نو ته د دنیا خاوند دواړه سره برابر یاستئ.
او داسې نور د پند او نصیحت څخه ډک اشعار د رباني علماوو په کتابونو کې موندلی شئ.

## د وعظ مراجع

د وعظ مراجع په دوه ډوله دي، لومړنی مراجع او دویمې مراجع.

**لومړنی مراجع**: د وعظ لومړنی مراجع دیني علوم دي چې په سر کې یې قران کریم او نبوي سنت ځای لري، د عقایدو د علم بنا د توحید ایتونو باندې ده او دغه د توحید ایتونه د قیامت ورځې پورې موجود دي د ټولو خلکو سره پرې خبره کېدای شي او د ټولو ملحدانو د شبهاتو ځوابونه په کې موندل کېږي.

او د عملي تکلیفونو علم چې د عالم د نظام ساتنه او د دنیا او اخرت د ژوندونونو اصلاح او په دنیا کې امتحان یې راز دی د دې مرجع هم د احکامو مبارک ایتونه او نبوي لارښوونې دي او د قران کریم او نبوي سنتو زیاته برخه د اخلاقو علم بنسټ تشکیلوي.

هغه اخلاق چې هدف یې د نفسونو اصلاح او انسان ښخه حقیقي انسان جوړول دي کوم چې د خلافت لپاره ور وي، نو په لنډه توګه باید وویل شي چې دیني علوم د وعظ لومړنی مرجع ده، نو واعظ ته په کار دي چې د کتاب الله او نبوي سنتو علم زده کړې قران کریم حفظ او تجوید سره یې ولولي او دې سره ډېر حدیثونه حفظ کړي په دې هکله په لنډ ډول د ځینو ضروري کتابونو یادونه کوم چې د دې ښخه واعظ باید ګټه واخلي لکه رياض الصالحين د امام نووي رحمه الله کتاب الترغيب والترهيب د حافظ منذري رحمه الله. د امام غزالي رحمه الله احياء العلوم کتاب کوم چې د احادیثو تخریج یې حافظ عراقي کړی لکه کتاب منازل السائرين د امام هروي او د دې شرحه مدارج السالكين د امام ابن قيم رحمه الله او داسې نور د وعظ او

نصیحت هغه کتابونه چې ورانديو او وسنیو علماوو لیکلي دي.

**د وعظ دویمه مرجع:** د وعظ دويمه مرجع وضعي علوم دي بيا تو پیر نه لري چې دغه علوم ديني وي، او که نور علوم لکه: تاریخ ، سیرت چې د دې څخه مونږ ته د دین د مشرانو واقعات په څرګند ډول ښکاره کیږي.

او همدارنګه نور دنیوي علوم کوم چې نن زمانه کې په نړۍ کې رواج دي دې باره کې هم باید مسلمان وعظ کوونکی معلومات ولري ترڅو د ديني علومو او وضعي علومو ترمنځ د مقارنې توان ولري او د دې سره سره د ورځنیو واقعاتو په اړوند معلومات ولري، د دین د دښمنانو دسیسو او فریبونو باندې پوه وي او خلکو ته د دین د دښمنانو د دسیسو څرګندونه وکړي.

## په وعظ کې د مثالونو وړاندې کول

په وعظ کې د مثالونو وړاندې کول ډېر تاثیر لري، ځکه څرنګه چې د یو شي مثال په نفس باندې تاثیر کوي ، د هغه شي د ذات بیانول یې دومره نه کوي ، ځکه مثال د دې لپاره راوړل کېږي چې پټ شی د څرګند شي سره مشابه کړي، الله تعالی هم په قران کریم کې ډېر مثالونه ذکر کړي دي او نبوي حدیثونه هم د مثالونو د وړاندې کولو څخه نېمګړي نه دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په احادیثو کې د ډېرو شیانو څرګندونه مثالونو سره کړې ده، پټه دې نه وي د دغو مثالونو باره کې مستقل کتابونه لیکل شوي دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝ ﴾.(ابراهيم:٢٥)

ژباړه: دا مثالونه الله ددې لپاره خلکو ته بیانوي چې هغوی ورڅخه درس واخلي.

الله تعالی د دنیا د زر تېرېدلو او د فاني کېدلو څنګه ښکلی مثال ذکر کړی دی الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَ اضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ ﴾.

(الكهف:٤٥)

ژباړه: او ای پیغمبره! دوی ته ددنیا د ژوندانه حقیقت پدې مثال سره وپوهوه چې نن مونږ له اسمانه اوبه وورولې.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښه ملګري او بد ملګري څرنګه ښکلی مثال وړاندې کړی په صحیحینو کې د ابوموسی اشعري رضي

الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي

إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَجَلِيسِ السُّوءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ، وَنَافِخِ الْكِيرِ، حَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً، وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يَحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً.

(صحيح مسلم)

ژباړه: ښه ملګري او بد ملګري مثال داسې دی لکه د عطرو خرڅونکی او د اهنګر بټۍ پوکوونکی د عطرو خرڅونکې به یا درته عطر درکړي یا به یې ترې په بیعه واخلې او یا به ترې خوندور بوی درته ورسیږي او د اهنګر د بټۍ اور بلونکی به دې یا جامې وسوزوي او یا به ترې بدبوی درته ورسیږي

لنډه دا چې هر واعظ باید د وعظ څخه وړاندې پوره معلومات لاس ته راوړي د خطابې او وعظ اصولو او قواعدو باندې ځان پوه کړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو ، تابعینو او نورو د دین د علماوو خطباتو څخه ځان خبر کړي او د هغوی خطبې د ځان لپاره د لارې څراغ وګرځوي هغوی چې کوم ډول وعظ او خطبات وړاندې کړې او کوم اصول یې کارولي دي دا هم باید قدم په قدم د هغوی تابعداري وکړي ترڅو پوره یې خبره په خلکو باندې ښه اثر وکړي او کوم هدف یې چې د ځان لپاره ټاکلی چې خلکو ته د الله تعالی د دین رسول دي هغه په ښه توګه ترلاسه کړي

## د جاهلیت په دور کې خطابه

د جاهلیت دور د اسلام د څرګندېدلو سره پای ته رسېږي، نو د جاهلیت په دور کې ډېري ادبي خطبي څرګندې شوي، ځکه عربو په شعر، شاعرۍ او ادب کې لوی لاس درلوده، نو دوی د خپلو نسبونو او د کورنیو د کارنامو، او ځان ښودني لپاره مجلسونه جوړول، او په هغې کې به يې مختلفې وېناوې کولي او شعرونه به يې ویل، دغه ته به يې په هغه وخت کې خطابې ویلي، دوی دې سره خپل افتخارات او سربښندنې بیانولې، خطابه کې عربان ډېر برلاسي وه، ځکه دوی د فصیحي ژبي، او جراءت خاوندان وه، او خطابه کې دا دوه شیان ډېر ضروري دي.

### د عربو خطبي دوه ډوله وي

لومړی اوږدې او دویم لنډې، د هر مقام لپاره به چې کومه خطبه مناسب وه هغه يې وړاندې کوله، د عمرو بن العلاء څخه پوښتنه وشوه، ایا عربانو اوږدې خطبي ویلي؟

هغه ورته وویل هو دا يې د دې لپاره ویلي چې خلک يې ښې واوري، بیا ور څخه پوښتنه وشوه، ایا دوی لنډې خطبي ویلي؟ هغه ورته وویل هو د دې لپاره چې حفظ يې کړي، د اوږدو خطبو صفت يې په خپل ځای او د لنډو خطبو صفت يې په خپل ځای کې کاوه، خو دوی د صلحې په باره کې اوږدې خطبي خوښولي، روایت دی چې د (قیس بن خارجه) څخه د (عبس) او (ذبیان) قبیلو ترمنځ د صلحې په باره کې غوښتنه وشوه چې څه ووایي، دې داسې خطبه وړاندې کړه چې د لمر راختلو سره پیل او د لمر پرېوتلو سره پای ته ورسېده، په دې کې ده

صله رحمۍ باندې امر کاوه، او د صله رحمۍ د قطع کېدو څخه يې منعه کوله، راويانو ويلي چې ده پوره يوه ورځ خطبه ورانديې کړه، خو د دې سره سره د ده په خطبه کې تکراري معنا نه وه او نه په کې تکراري کليمې وي، او همدارنګه دوی لنډو خطبو ته ډېر ميلان درلوده څکه هغه ښې حفظ کېدي، او زيات وخت نصيحتونو او وصيتونو کې کارول کېدي.

د دوی د مشهورو خطيبانو څخه کعب بن لوئ، ذوالاصبع العدواني، قيس بن خارجة بن سنان، خويلد بن عمرو الغطفاني، عمر بن کلثوم التغلبي، قيس بن ساعده الايادي، اکثم بن صيفي وه.

د ادب علماوو د قيس او اکثم په متانت او زړورتيا باندې اجماع کړې ده، د دې دواړو خطبو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او اخرت په باره کې هم واقعات او کلام نقل شوي دي، دوی د دين په پرتله ادب ته ډېر لاس رسی درلوده، خو دا هم ضروري ده چې د دين خطيب بايد ادب باندې پوه او تکړه اديب اوسي.

# خطابه په اسلام کې

هر امت کې د یو لوی بدلون او انقلاب د رامنځ ته کېدو لپاره که هغه دیني انقلاب یا بدلون وي، یا سیاسي، د دعوت لپاره یوې ویناوالې ژبې ته اړتیا ده، چې دغه دعوت په ښه توګه خپور کړي، او د دغه دعوت خپراوی دې سره ترسره کېږي چې په مجلسونو، غونډو، د حج په موسم او بازارونو کې د ډېرو خلکو ته ویناوې وشي

د رسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت خو یو لوی او مهم دعوت وو، ځکه په نړۍ کې د یو لوی بدلون لپاره وو، داسې دعوت چې د نړۍ نقشه یې بدله کړه، نو دې دعوت هم غوره ویناوو ته اړتیا درلوده

په اسلام کې د خطابې ابتداء د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خطیب په حیث، نه د شاعر په حیث راڅرګند ېدلو سره پیل شوه

لومړنی قیام چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خطابې لپاره ترسره کړ، دا هغه ورځ وه چې دغه ایت کریم نازل شو:

﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴾. (الحجر: ۹٤)

ژباړه: نو ای پېغمبره! د کوم شي چې تا ته حکم کېږي هغه په لوړ اواز ووایه او د مشرکانو یو بخري پروا مه کوه.

نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صفاء غونډۍ د پاسه خپل قوم ته بلنه ورکړه، دایې ورته و فرمایل که زه درته ووایم چې د دې غره هغه خوا د اسونو یو لښکر را روان دی او په تاسې باندې د برید اراده لري ایا تاسې زما تصدیق کوئ؟ هغوی وویل هو . مونږ په تاکې دروغ نه دي تجربه کړي. نو هغه وفرمایل زه د لوی عذاب راتللو نه

مخکې تاسو ته د الله تعالی له پلوه وېره درک کوونکی يم، نو د دې څخه وروسته هغه څه پېښ شول چې تاسې ته څرګند دي، او همدارنګه کله چې دغه ایت کریم نازل شو:

﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾.(الشعراء:۲۱٤)

ژباړه: خپل ډېر نږدې خپلوان ووېروه.

نبي كريم صلی الله علیه وسلم ټول خپلوان راټول کړل او وینا يې ورته وکړه، وينا يې څرګنده ده.

بيا د نبي كريم صلی علیه وسلم څخه وروسته د ده. څلورو راشده خليفه ګانو ګڼې خطابې وړاندې کړي دي، بیا د دوی څخه وروسته د بني اميه پاچايانو دغه عمل ترسره کړی، لنډه دا چې هر امام ته پکار دي که ديني مجلس کې وي يا سياسي مجلس کې وي لکه: د جمعې لمونځ ، اخترونو لمونځ، د حج موسم، جهاد ته د تیاری غونډې، په لنډه توګه هره مهمه غونډه چې د نیکیو د خپراوې او د بديو د مخنیوي لپاره ترسره کېږي بايد په هغو کې ښکلي او ښايسته خطبې وړاندې شي، او د وخت سره مناسب وېناوې وشي څکه دا د خلکو د ذهنونو په جوړولو کې پوره برخه لري.

# د خطابي جوړښت

د خطابې پوره جوړښت د درېو اجزاو څخه شوی دی، چې په لاندې ډول دي:

۱- مقدمه

۲- مقصد او موضوع.

۳- خاتمه

مقدمه:

## ۱- د خطبې پیل به حمد او ثناء سره کېږي:

څکه خطبه د عبادتونو د ډولونو څخه یو ډول عبادت دی، او په عبادتونو کې غوره عبادت لمونځ دی، نو څرنګه چې د دې پیل حمد او ثناء سره شوی نو لازم ده چې د خطبې پیل هم حمد او ثناء سره وشي، رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

كُلُّ كَلَامٍ لَا يُبْدَأُ فِيهِ بِالْحَمْدُ لِلهِ فَهُوَ أَجْذَمُ.(صحيح البخاري)

ژباړه: هر کلام چې په الحمدلله پیل نه شي هغه لنډي بوچې ( بې برکته وي)

جاحظ ویلي دي: سلفو خطیبانو، او تابعینو کې د بیان خاوندانو به هغه خطبه چې حمد او ثناء سره به نه وه، پیل شوي، هغې ته به یې لنډۍ بوچې ویلي، او هغه خطبه چې د قران کریم په ایتونو او پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې درود ویلو باندې مشتمل نه وه، هغې ته به یې شنډه ویلي.

هغه دا هم ویلي: عمران بن خطاب ویلي: د زیاد په وړاندې مې خطبه

وويله، ما ګمان وکړ کېدای شي په دې کې مې هيڅ کمی نه وي کړی، او اعتراض کوونکي ته مې د اعتراض ځای نه وي پرېښی، دغه وخت يو مجلس باندې تېر شوم ، يو بوډا سړي وويل: دغه هلک د عربو د غوره خطيبانو څخه دی خو چې په خطبه کې يې څه شی د قران کريم څخه وی، نو خطبه کې د قران کريم ايتونه ذکر کول ډېر اهميت لري بايد پوره پاملرنه ورته وشي.

**٢- مقدمه کې دې موضوع ته اشاره موجود وي :**

د خطابي د علم علماء دا غوره ګڼي چې د خطبي مقدمه کې دې هغې موضوع ته اشاره وشي چې خطيب يې د وړاندې کولو اراده لري، او دغه اشاره هغه د حمد او ثناء ، تشهد، او نبي کريم صلي الله عليه وسلم باندې درود ويلو په چوکاټ کې تر سره کولای شي، او دې اشارې ته ( براعة الاستهلال) وايي، دا اشاره دې لپاره غوره ګرځول شوي، چې دې سره اورېدونکي د موضوع اورېدلو ته ځانونه تياروي، او موضوع ته ډېره پاملرنه کوي.

جاحظ د عبدالله بن المقفع څخه نقل کړي هغه ويلي دي:

وليکن في صدر کلامک ما دل علي حاجتک کما ان خير ابيات الشعر، البيت الذي اذا سمعت صدره عرفت قافيته.

ژباړه: ستا د کلام لومړی برخه دې په هغه څه مشتمله وي چې ستا غوښتنه باندې دلالت کوي، ځکه د شعر غوره بيتونه هغه دي چې کله ته د هغه لومړی برخه واورې، د هغه بيت قافيه ترې معلومولی شي.

جاحظ ويلي: بايد د نکاح د خطبې، د اختر د خطبي او د صلحې د خطبي د پيل سره فرق ولري ځکه د هرې خطبي لومړی برخه کې بايد

هغه څه وي چې د هغې په وروستنۍ برخې باندې دلالت وکړي

**مقصد او موضوع:**

مقصد او موضوع هغه څه دي چې خطیب یې خلکو ته وړاندې کول غواړي، د مقصد وړاندې کولو کې د ځینو شیانو مراعت کول واجب.

د ځینو ښه او غوره او د ځینو شیانو مراعت ضروري دی.

هغه شیان چې مقصد او موضوع کې یې راوړل واجب دي:

**۱- د مقصد او موضوع یووالی:**

د موضوع وحدت (یووالی) یو ضروري شی دی، ځکه دا ښه نه ده چې خطبه دې د ډېرو موضوعاتو لرونکي وي، پرته د ځینو خاصو حالاتو چې هغې کې کمو موضوعاتو وړاندې کولو ته اړتیا پیدا کېږي چې خطیب ټولې په یوه خطبه کې را ونغاړي، خو خطیب به ټولې ښې او پوره طریقې سره اورېدونکو ته وړاندې کوي.

**۲- پوره وضاحت (څرګندونه):**

موضوع باید پوره روښانه وړاندې شي، او د زیات وضاحت لپاره باید د قران کریم د ایتونو او نبوي احادیثو څخه استفاده وشي، او د موضوع سره مناسب ځینې لنډې کیسې او مثالونه هم وړاندې شي او د امت پاملرنه د مخکنیو امتونو واقعاتو ته را وګرځول شي.

**۳- دقیق فکر او توجه:**

خطیب ته په کار دی، چې د نصوصو وړاندې کولو کې ډېره توجه او دقیق فکر وکړي، صحیح نصوص وړاندې کړي او د موضوعي او کمزورو اثارو وړاندې کولو څخه ځان وساتي، د ځینو خطیبانو غوندې کرنه غوره نه کړي، څوک چې داسې اخبار وړاندې کوي چې

سراسر د ديني حقايقو سره په ټکر کې وي ، او کله چې وړباندې نيوکه وشي ، چې دا مو ولې وړاندې کړي دي؟ په ځواب کې ورته وايي دا د تفسير ډېرو کتابونو کې راغلي دي، خو دې ته پاملرنه نه کوي چې د تفسير کتابونو کې ډېر داسې واقعات او مسايل ذکر شوي چې هيڅ صحت نه لري

امام سيوطي رحمه الله وايي:

د تابعينو زمانې څخه وروسته داسې کسان راڅرګند شول چې د تفسير علم کې يې ډېر کتابونه وليکل، دوی خپلو تاليفاتو کې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم، صحابه وو کرامو رضي الله عنهم ، تابعينو رحمهم الله اقوال د سندونو ذکر کولو سره راوړل، لکه تفسير د سفيان بن عيينه ، تفسير د وکيع بن الجراح او د دوی پرته نور تفسيرونه ، د دوی څخه وروسته نور خلک راغلل دوی سند ذکر کولو کې اختصار وکړ، پورته ذکر شوي اقوال به يې ذکر کول، خو د هغوی سند به يې نه ذکر کاوه، او د دې اقوالو نسبت به يې د هغې خاوندانو ته نه کاوه، اقوالو راوړلو کې به يې د پوره فکر او پاملرنې څخه کار نه اخيسته، د همدې وخت څخه نقصان او خلل منځ ته راغی، صحيح اقوال د غير صحيح او کمزورو اقوالو سره خلط او ګډوډ شول، بيا داسې حالت راغی هرچاته به چې هر ډول قول رسېده، هغه به يې خپل کتاب کې ليکه، او هرڅه به يې چې زړه کې تېرېدل اعتماد او باور به يې پرې کاوه.

او د دې خلکو څخه چې ځوک وروسته راغلل، هغوی د دوی څخه همدغه اقوال نقل کړل، دوی دا فکر کاوه، چې دا اقوال به اصل لري،

خو دوی هم هغه څه ته پاملرنه ونه کړه کوم چې په دې باره کې د سلفو څخه نقل شوي وه، او هغوی په خپلو کتابونو کې ليکلي وه، نو پايله داشوه چې نن مونږ د تفسير کتابونو کې ډېر داسې واقعات گورو چې مراسر د دين د اصولو سره په ټکر کې دي، نو خطيب بايد د نصوصو په وړاندې کولو کې د ډېر غور او فکر څخه کار واخلي، د کمزورو او موضوعي اقوالو وړاندې کولو څخه ځان وساتي، ځکه دا دين ته تاوان رسوي ، دا د دين اصلي شکل ته تغير ورکوي

**۴- زيری او وېره ورکول په گډه ذکر کول :**

دا ضروري ده چې يوه موضوع کې تبشير «زيري ورکول» او تحذير «وېره ورکول» يو ځای راوړل شي، ځکه دا هغه منهج دی چې الله تعالی د خپلو بندگانو د اصلاح لپاره غوره کړي دي، الله تعالی خپل انبياء او رسولان عليهم السلام زيري ورکوونکي او وېره ورکوونکي را استولي دي، او دوی هر دعوت کوونکي لپاره قدوه او لاربښودونکي دي، هر دعوت کوونکی بايد د دوی په پل باندې پل کېږدي، هر کله چې مونږ قران کريم کې فکر او غور وکړو گورو چې قران کريم کې تبشير او تحذير يوځای راغلی دی، يو څو بېلگي يې په لاندې ډول دي

الله تعالی فرمايلي دي

﴿نَبِّئْ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ۝ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ۝﴾.

(حجرات ۴۹- ۵۰)

ژباړه ای پېغمبره! زما بندگانو ته خبر ورکړه چې زه ډېر ښه بښونکی او مهربان يم خو ددې ترڅنگ زما عذاب هم ډېر دردناک عذاب دی

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾. (اعراف ١٦٧)

ژباړه: په رښتیا چې ستا رب په سزا ورکولو کې چالاک دی، او په یقینې توګه هغه له تېرېدنې او رحم څخه هم کار اخیستونکی دی.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ﴾. (الرعد: ٦)

ژباړه: حقیقت دادی چې ستا رب د خلکو له تېرېو سره سره هغو ته بښنه کوي او دا هم حقیقت دی چې ستا رب سخت سزا ورکوونکی دی

قران کریم کې د دغو دواړو یوځای راوړلو راز او حکمت څرګند دی، هغه دا چې قران کریم ډول ډول خلک مخاطب ګرځوي، چې مختلف طبیعتونه لري، په دوی کې ځینې داسې وي چې مینه او رغبت یې دې ته اړباسي چې نیک کارونه ترسره کړي او د بدو کارونو څخه منعه شي

خو ځینې په کې داسې دي چې د مینې او رغبت خبرې پرې اثر نه کوي . دا ور باندې اثر کوي چې زړونو ته یې تکان ورکړل شي او تهدید شي، نو د خلکو د طبیعتونو د اختلاف له امله زېرې او وېره په قران کې څکه یوځای ذکر شوي خطیب هم د خلکو یوې مجموعې په وړاندې ودرېږي، چې د هغوی طبیعتونه هم سره توپیر لري، نو دا هم باید خپله خطبه کې دغه طریقه او منهج غوره کړي، خو داسې نه ده

چې هره موضوع دې زېري او وېري باندې مشتمله وي، ځکه کله دې
دواړو څخه یو ذکر کېږي ، دا طریقه هم قران کریم کې مونږ وینو،
ځکه ځینې سورتونه داسې دي چې یواځې بشارت باندې مشتمل وي،
لکه: سورت الکوثر.
او ځینې سورتونه داسې دي چې یواځې تحذیر باندې مشتمل وي،
لکه: سورت التکاثر او سورت الهمزه، خو د دې دواړو څخه یو باندې
اختصار قران کریم کې ډیر لږ ترسترګو کېږي.

**۵- په څه چې نه پوهېږي خلکو ته هغې باندې د پوهېدلو د دعوا کولو څخه ځان ساتل:**

خطیب ته په کار دي چې د هغې وینا څخه ځان وساتي چې علم پرې
نه لري، او په څه باندې چې علم نه لري، خلکو هغې باندې د پوهې
دعوه ونه کړي، په ځانګړې توګه د هغو علومو د باریکه مسایلو څخه
ځان وژغوري چې هیڅ اړیکې ورسره نه لري، ځکه داسې مسایلو کې
بحث کول د خطاء او شک څخه په امن نه وي، نو د دې وړاندې کولو
سره د علماوو په وړاندې تیټ معرفي کېږي او دې مسایلو وړاندې
کولو سره د ګناه مرتکب ګرځي، اګر چې د ده اراده نیکي کول وي.

**۶- د اجزاو تسلسل:**

مناسب ده چې د موضوع اجزاء یو بل پسې تسلسل سره ذکر شوي
وي، چې د دې سلسلې د کړیو څخه مقصوده نتیجه په لاس راشي،
ځکه د هرې موضوع اجزاء چې یو په بل پسې منظم ذکر شي موضوع
په ښه توګه حفظ کېدلی شي، او د خلکو پاملرنه ورته را ګرځي

**هغه شیان چې مقصد او موضوع کې یې راوړل غوره دي:**

د موضوع په وړاندې کولو کې ټول هغه شیان ذکر کول غوره او ښه کار دی چې د خطبې مستوی پرې لوړیږي، او د خلکو شعور پرې راویښیږي او تازه والی په کې راځي.

خطیب اوریدونکو کې د خپل توان موافق اثر پیدا کولی شي، دغه د اثر پیدا کول لاندې ذکر شوو امورو پورې اړه لري.

**۱- خطیب به د عاطفي را پارونکی وي:**

څه شي ته چې خلک رابلي د هغه حق به یې پوره کړای وي ، د خلکو د طبیعت مطابق الفاظ به کاروي، او دغه الفاظ به د دوی په وړاندې مجسم ګرځوي، څومره چې د خطیب په عاطفه کې حرارت وي په هماغه اندازه د خلکو طبیعت کې حرکت پیدا کولای شي .

**۲- ښه تصویر وړاندې کول:**

داسې تصویرونه به ذکر کوي چې جذاب او د دروغو څخه لرې وي، ترڅو پورې دغه مثالونه د دعوت لپاره د افزارو په توګه وکارول شي، دغه مثالونه خلکو باندې زیات اثر لري، نبي کریم صلي الله علیه وسلم د پنځه وخته لمونځ مثال د یوې ویالې سره ورکړی چې په هغې کې یو انسان د ورځې پنځه ځله غسل وکړي بیا یې پوښتنه کړي چې ایا د هغه په بدن کې به خیری پاتې شي؟

**۳- موضوع کې به هغه څه وي چې خلکو کې نشاط پیدا کوي:**

خطیب دې هغه څه باندې ډېر حریص اوسي او پاملرنه دې ورته وکړي، چې خلکو کې نشاط او بیداري را پیدا کوي، دا ډول ډول اسلوب او طریقو کارولو سره په لاس راځي، کله د مقدمې څخه

وروسته د سوال کولو طریقه غوره کړي د مثال په ډول د موضوع په
اړوند دې د اوریدونکو څخه د یو شرعي حکم پوښتنه وکړي
بیا دې ووایي ځیني خلک شته چې دغه حکم بالکل نه پوهیږي او یا
هغه ته پوره پاملرنه نه کوي، او مسلمان ته نه دي په کار چې په داسې
حکم پوه نه شي، د پوښتنو وروسته دې پوره وضاحت سره اړونده
موضوع شرح کړي
د پوښتنې اسلوب به نبي کریم صلي الله علیه وسلم د هر کارول فرمایل
به یې ایا تاسې پوهیږئ دا څنګه او څنګه دي؟ لکه فرمایلي یې دي
«أَتُحِبُّونَ أَيُّهَا النَّاسُ أَنْ تَجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ؟ قُولُوا: اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ
وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ». (صحیح مسلم)
او لکه د حجة الوداع په خطبه کې یې دغه طریقه کارولې فرمایلي یې
دي
«أَيُّ يَوْمٍ أَعْظَمُ حُرْمَةً؟ · أَيُّ شَهْرٍ أَعْظَمُ حُرْمَةً؟ · أَيُّ بَلَدٍ أَعْظَمُ حُرْمَةً؟
أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟». (سنن الترمذي)
کله دې خطیب د عبرت څخه ډکه لنډه کیسه وړاندې کړي، که اوسنې
زمانې پورې اړه لري او که تېر تاریخ پورې تړاو لري، بیا دې کیسې
ته هغې موضوع سره ربط ورکړي چې وړاندې کول یې غواړي، او د
دلیل په ډول دې د قران او احادیثو نصوص وړاندې کړي، او مقارنه
دې وکړي بیا دې د پایلو او عبرتونو بیان وکړي
کله به خطیب د قران کریم کوم ایت او د نبي کریم صلي الله علیه
وسلم یو حدیث یا دواړه یو ځای ذکر کوي، او د امت وریښې واقعې،

سره به ورته ربط ورکوي، خو ددغو ټولو طريقو او منهجونو کارولو سره سره خطيب ته دا مناسب دي، چې د خطبي لومړۍ برخه به يې د وروستۍ برخې په پرتله زيات جوش او حرارت باندې مشتمله نه وي، ځکه غوره داده چې وروستۍ برخه کې يې د لومړۍ برخې څخه جذبه او حرارت زيات وي ځکه دا په زړونو باندې ښه اثر کوي

**هغه څه چې مقصد او موضوع کې يې راوړل ضروري دي:**

هغه څه چې ځينې وختونه د هغې راوړل په موضوع او مقصد کې ضروري وي په لاندې ډول دي:

✍ خطيب دې ځينو وختونو کې د خپلې دعوي د صحت، او د هغې نظريې چې د دين د اصولو سره مخالفه وي د کمزوري کولو او دهغو شيانو د باطل کرځولو چې خلک يې د دين څخه ګڼي او دين نه وي، د ټولو امورو لپاره دې دلايل بيان کړي، د لاندې دوه ډوله دلايلو څخه يو يې زيات په خطبو کې کارول کېږي:

۱- منطقي دليل.

۲- خطابي دليل.

منطقي دليل: دا خاصو قواعدو باندې بناء وي ، دا ډېر ډولونه او انواع لري چې په تفصيل سره د منطقو په کتابونو کې موندل کېږي.

خطابي دليل: دا هغه څه دي چې خطيب د خپلې موضوع د ثابتولو لپاره څه مثالونه، متلونه، لنډۍ خو د عبرت څخه ډکې کيسې ذکر کوي، کله دا دليل داسې مقدماتو باندې بناء وي، چې عقل يې نه تسليموي، د دې دليل مثالونه د وعظ او خطبو کتابونو کې ډېر موندل کېږي.

**خاتمه**

خاتمې په اړوند د خلکو ترمنځ يو تعبير موجود دی، هغه دا هر چاچې ښكلي خاتمه ذكر كړه دوی د هغه په باره كې وايي: ﴿خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ﴾ دا تعبير د قران كريم څخه اخيستل شوی دی، قران كريم كې د جنت شراب دې صفت باندې موصوف كړځولي دي ، دغه الهي وصف مونږ ته لارښوونه كوي چې ښه خاتمه په زړونو باندې لوی اثر لري ، او دې ته د بلاغت علماوو ډېره پاملرنه كړې، دوی دې باره كې د لويو علماوو تابعداري كړې ده، دوی د هرخطاب د خاتمې لوړوالی او غوره والی د بديع د علم د مهمو عناصرو څخه ګڼي، كوم چې د بلاغت د علم يوه څانګه ده او دې ته (براعة الختام) وايي:

خاتمه د دې وجې ډېره مهمه ده ځكه دا وروستنی كلام دی، چې د اورېدونكو غوږونو ته رسېږي، او د هغوی په ذهنونو كې پاتې كېږي، او د هغوی په زړونو باندې ښه اثر غورځوي، د يوې ښې خاتمې راوړلو باره كې د خطيبانو منهجونه او طريقې توپير لري

✍ ځينې خطيبان داسې دي چې خاتمه كې د موضوع لنډيز داسې طريقې سره وړاندې كړي، چې د موضوع د وړاندې كولو طريقې سره توپير لري

✍ ځينې خطيبان داسې دي چې خاتمه كې د خلكو څخه د يو شي باره كې پوښتنې كولو د هغه باره كې تعجب كولو ، افسوس كولو ، نا اشنا ګڼلو سره خلكو كې بېداري او نشاط منځ ته راوړي.

او ځينې خطيبان داسې دي چې خاتمه كې دغه دواړه طريقې كاروي

په هر صورت خطیب چې هره طریقه کاروي خو پرې لازم دي چې خاتمه کې غوره الفاظ، لنډ ترکیبونه، ښکلي جملې، منظم عبارتونه استعمال کړي، او اورېدونکو، ټولو مؤمنانو او اسلام ته جامع دعاء کولو سره خپله خطبه پای ته ورسوي.

## د یوې غوره خطبې ځانګړتیاوې

کامیابه خطبه چې اهداف تري ترلاسه کېږي، او د اهدافو د لاس ته راوړلو هیله ترې کېږي، هغه ده چې لاندې ځانګړتیاوې ولري:

### ۱- د موضوع یووالی:

مناسب دي چې خطبه کې یوې موضوع باندې بحث وشي، ډېر موضوعات وړاندې نه شي، ځکه دې سره د اورېدونکو فکرونو کې بې نظمي راځي، او دوی حیرانتیا کې پرې باسي، پایله یې دا شي چې د خطبې وروسته هیڅ باندې پوه نه شي، په دې باندې مخکې په تفصیل سره بحث شوی دی.

### ۲- د خطبې ژبه:

خطبه باید د فصاحت او بلاغت څخه برخمني ژبې په ذریعه وړاندې شي، د فصاحت او بلاغت اصولو رعایت کولو سره سره باید خطبه کې عام فهمه ژبه وکارول شي، د نااشنا کلمو او الفاظو کارولو څخه باید ډډه وشي، که خطیب داسې نص یا شعر وړاندې کړي چې نااشنا کلیمې او الفاظ په کې راغلي وه، باید هغه کلیمې او الفاظ اورېدونکو ته پوره شرح او روښانه کړي، د وضاحت کولو پرته پرې تېر نه شي.

### ۳- د خلکو ترمنځ د اختلافاتو نه راپورته کول:

خطبه باید د هغو شیانو څخه خالي وي، چې د هغې بیانولو سره د مسلمانانو ترمنځ اختلافات راڅرګندېږي، د یوې فقهي فرعي اختلافي مسئلې یوې خواته موقف نیول او د هغې په اړوند د تعصب څخه کار اخیستل، دغه عمل د دوه ډلو ترمنځ تعصب نور هم زیاتوي،

او د مسلمانانو ترمنځ د جګړي سبب ګرځي، او همدارنګه خطبه باید هغه څه څخه خالي وي چې هغې سره په قريه، ښار، يا هېواد کې د غلي شوي فتني اور بېرته راتازه کېږي، څکه نقل شوی دی:

(الفتنة نائمة لعن الله من ايقظها).

ژباړه: فتنه ويده ده په هغه چا دې د الله تعالی لعنت وي چې دا راويښوي.

څکه دې ځای کې خطيب قاضي نه دي، بلکې يو اصلاح راوستونکی دی، دا به د خلکو ترمنځ نژدې والی او يووالی راولي، د تفرقي سبب به نه ګرځي، او غوره خطبه هغه ده چې په هغه څه مشتمله وي چې د خلکو د شخړو حل او فصل پرې راځي.

**۴- د عامو خلکو د ژوندانه سره تړاو او رابطه:**

خلک ډېري ستونزي او دردونه لري، هېوادونو کې د الله تعالی د شريعت پرته نورو قوانينو باندې فيصلې کېږي، د ځينو خلکو هېوادونه يرغلګرو نيولي، او دوی يې ترې شړلي دي، د بوډاګانو، ماشومانو او ښځو ويني يې په کې تويي کړي دي ، د هغوی د مقدساتو سپکاوی يې کړی دی، او دغو غاصبانو د مظلومو خلکو څخه د بيان د ازادۍ حق اخېستی دی، هېڅوک د دوی د استبداد لاندې هېوادونو کې د رايې د څرګندولو حق نه لري، د يو څو نمونوي ازاديو پرته هېڅوک ازاد نه دي، نو غوره خطبه هغه ده چې د دغو ستونزو او مسايلو علاج او درملنې ته په کې اشاره شوي وي، خو افسوس چې اوس داسې خطبې په نظر نه راځي، که داسې خطبه چا وړاندې کړه خلک ورته وايې خطيب صاحب سياسي بحث پرېږده نورې

ديني خبرې وکړه.

**۵- د خطبې مواد بايد علمي وي:**

خطبه بايد ژورو او علمي موادو باندې مشتمله وي، چې د دغو معلوماتو څخه ځينې يې بايد اورېدونکو ته نوي وي، چې د دوی اخلاقو، عقايدو او نورو اړخونو ته متوجه وي، او دوی خير او نيکۍ طرف ته جلبوي.

او غوره داده چې خطبه کې د هرې يوې نظريې د ثبوت لپاره د قران کريم په ايتونو، نبوي احاديثو، د فقهاوو او مفسرينو په اقوالو، شعرونو او مثالونو باندې استدلال شوی وی، او واجب دي چې صحيح نصوصو باندې اعتماد وساتي، د نصوصو د وړاندې کولو مخکې بايد د هغوی د صحت او عدم صحت باره کې پوره پلټنه ترسره شي، ترڅو صحيح نصوص وړاندې او د کمزورو او موضوعي اثارو د وړاندې کولو څخه ځان وساتل شي.

**۶- خطبې او د هغې د جملو لنډوالی:**

وړه او کامیابه خطبه هغه ده چې نسبتاً لنډه يعنې منځمهاله وي، ډېر وخت ونه نيسي، زما په نظر منځمهاله خطبه هغه ده چې د ساعت درېيمه برخه يعنې شل دقيقې ونيسي، که مونږ د نبي کريم صلي الله عليه وسلم، راشده خليفه ګانو او صحابه کرامو رضي الله عنهم خطبو ته وګورو د هغې اندازې څخه به اوږدې نه وي کومه چې مونږ ذکر کړه، او غوره خطبه هغه ده چې جملې يې هم لنډې وي او د اوږدو جملو کارولو څخه په کې ډډه شوې وي، ځکه اوږدې جملې د اورېدونکو د ذهنونو د ستړيا سبب ګرځي او سمه ګټه ترې نه اخېستل

کېږي، او د دې په خلاف د لنډو جملو څخه زر فهم ترلاسه کېږي، د لنډې خطبې باره کې نبوي احاديث هم راغلي دي، چې د هغې څخه يو هم د عماربن ياسر رضي الله عنه روايت دی کوم چې ابوداؤد نقل کړی دی، هغه ويلي دي:

«أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِقْصَارِ الْخُطَبِ».(سنن الكبرى)

ژباړه: مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم د لنډو خطبو امر کړی دی.

**هغه سلبيات چې د جمعې خطبه کې بايد ترې ځان وساتل شي:**

زمونږ په مسجدونو کې د ځينو خطيبانو په خطبو کې څه منفي ټکې ترسترګو کېږي، خطيبانو ته په کار دي چې ځانونه ترې وساتي ، او نورو ته يې هم د پرېښودلو امر وکړي ، هغه منفي شيان په لاندې ډول دي:

**۱- د خطبې اوږدوالی:**

خطيبان په دې پوهېږي چې د جُمعې په ورځ مسجد ته ځوانان، بوډاګان، ښځې او نور خلک راځي ، دغه بوډاګان د ډېر عمر لرلو له امله د ډېر وخت لپاره خپل اودس نه شي ساتلی، او ځينې ښځې د ماشومانو درلودونکي وي، او ځينې خلک د ژوند د نورو ضرورتونو او کارونو درلودونکي وي، د خطبې اوږدوالی دغو ټولوته زيان رسوي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله لمونځ کاوه او اراده به يې لرله چې اوږد قراءت وکړي، خو کله به يې چې د ماشوم اواز واورېده چې ژاړي ، نو په هغه او د هغه مور باندې رحم کولو په خاطر به يې

لمونځ لنډ کړ، د دې سربېره د خطبې اوږدوالی د ستړیا، او خطبې او خطیب ته د راتللو مانع کرځي، خطیب باید خپله خطبه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان لپاره قدوه او لارښود وګرځوي، د هغه خبرو کې ډېر خوږوالی موجود وو، سره د دې چې هغه جامع الفاظ کارول او هغې کې به یې د عربو د فصاحت څخه کار اخیسته خو بیایې هم اوږده خطبه نه وړاندې کوله د دې وېره ورسره وه، چې خلک ستړي نه شي

امام مسلم په صحیح مسلم کې خپل سند سره د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روایت نقل کړی هغه ویلي دي:

«کنت اصلي مع النبي صلی الله علیه وسلم الصلوات فکانت صلاته قصرا و خطبته قصرا». (صحیح مسلم)

ژباړه: ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره لمونځونه کړي دي، د هغه لمونځ لنډ وو او خطبه یې هم لنډه وه.

ډېر دردونکی حالت هغه دی چې خطیب د مسجد خوا او شا کې وینې چې سخته یخني، باران، واوري، او یا هم لمر کې سختې ګرمی ته خلک ناست دي، خو خطیب دې حالت لېدلو سره سره خپله خطبه اوږده کړي.

امام مسلم په صحیح مسلم کې خپل سند سره د واصل بن حیان رضي الله عنه روایت نقل کړی هغه ویلي دي: یوه ورځ مونږ ته عمار رضي الله عنه خطبه وویله، ډېره لنډه او بلیغه خطبه یې وویله، کله چې راښکته شو مونږ ورته وویل ای ابو یقظانه! ډېره لنډه او بلیغه خطبه دې وویله که لږ ساه دې په کې اخیستې وی نو ښه به وو، هغه وویل: ما

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې:
«ان طول صلاة الرجل و قصر خطبته مئنة من فقهه»
ژباړه: د سړي د لمانځه اوږدوالی او د خطبې لنډوالی د هغه د پوهې نښه ده.

**۲- د هغو ایتونو او نبوي احادیثو چې خطیب پرې استدلال کوي عدم حفظ:**

غوره حالت دادی چې ایتونه او احادیث یوه پاڼه کې ولیکي او د هغې څخه یې ولولي.

**۳- غیرصحیح احادیثو باندې اعتماد او د هغې څخه شرعي احکام را ایستل:**

خطیب باید په دې پوه شي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هغه خبر نقل کېږي چې سند ولري ، او هغه سند لرونکي خبر باندې عمل ترسره کېږي چې سند یې صحیح وي ، او متن یې د هغه علت څخه خالي وي چې د حدیث صحت ته زیان رسوي.

**۴- د ژبې خطاء:**

د ژبې خطاء داده چې خطیب عربي عبارتونه د عربي قواعدو موافق نه لولي، دا عربي ژبه کې دده په کمزورتیا دلالت کوي، د دې اصلاح ضروري ده ، ځکه دا د علماوو او زده کوونکو په وړاندې لوی عیب ګڼل کېږي ، د دې علاج دا دی چې خطیب دې د عربي ژبې قواعد زده کړې او د صرف او نحوي کتابونو ته دې مخه کړي، ترڅو د هغو خطاګانو څخه بچ شي چې انتقاد کوونکي ورته ګوته نیسي.

**۵- د قراني نصوصو ، نبوي احاديثو څخه د خطبې خالي والی:**

دا هم د خطبې د سلبیاتو څخه ګڼل کېږي، چې خطبه کې د قران کریم په ایتونو، نبوي احادیثو او قراني واقعاتو او کیسو باندې استدلال ونه شي، نورخو پرېږده کیسې خو داسې شی دی، چې عام طور سره باید خطبه ترې خالي نه وي، دا د خلکو توجه جلبولو او تشویق کې پوره برخه لري، زده کړه او یادولو کې یې ذهن نه ستړي کېږي، همدارنګه خپلې خطبې کې باید د ځینو علماوو او حکماوو اقوالو او ځینې شعرونو ته ځای ورکړي، ځکه خطبې کې هر ډول خوږوالی پیدا کولو سره ستړیا له منځه ځي.

**۶- ښې طریقې سره د خطبې نه وړاندې کول:**

خطیب باید د خطبې ټول عناصر برابر کړي، د قران کریم، نبوي احادیثو، سیرت، فقهي او نورو علمي کتابونو څخه قوي دلیلونه راټول او منظم کړي، دې سره سره خطبه په ښه توګه وړاندې نه کړي، نو په دې صورت کې یې ټول کوښښونه ضایع کېږي، او کوم تاثیر چې ده غوښتلو هغه ډول تاثیر نه کوي، او هغه اهداف ترې په لاس نه راځي چې ده لاس ته راوړل غوښتل.

د دې علاج دا دی چې خطیب دې د خطبې تمرین وکړي، خپلو ورونو او ملګرو ته دې ووایي چې د ده خطبې ته حاضر شي او د ده ارزیابي ترسره کړي، د خطبې د اورېدلو ورسته خطبه کې ورته مثبت او منفي ټکې په ګوته کړي، خطیب د هغه منفي ټکو اصلاح کولو ته اقدام وکړي چې دوی ورته په ګوته کړي وي.

کله کله د خطبې ناسم وړاندېز د اواز د کمزوتیا او ښکته والي له وجې

وي، چې اورېدونکو ته په ښه توګه نه رسېږي، او کله د دې سبب د لوډسپیکر خرابوالی وي، چې په پرې کړې ډول سره اواز تر غوږو رسوي، او کله نور شور او غوغا په ښې طریقې سره د خطبې د نه وراندې کولو سبب ګرځي

### ۷ - اواز او سجع کې د تکلف څخه کار اخېستل

تکلف سره د الفاظو غوره کول، تکلف سره هغې باندې تلفظ کول، او تکلف سره اواز ایستل د خطبې د سلبیاتو څخه شمېرل کیږي، ځکه په ټولو امورو کې تکلف د هغوی د فساد سبب ګرځي، الله تعالی خپل نبي ته امر کړی فرمایلي دي:

﴿قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ﴾ (ص: ۸۶)

ژباړه: ای نبي ورته ووایه: زه د تاسو څخه دې باندې کوم اجر نه غواړم او زه د تکلف کوونکو څخه نه یم.

تکلف عیب دی ځکه دې کې خلکو ته د هغه څه ځرګندونه کیږي چې په ده کې نه وي، په تکلف کې نفس او زړه خپلې خوښې او طبیعت ته نه پرېښودل کیږي، نو خطیب ته په کار دی چې د تکلف څخه کار وانخلي، ځکه خلک تکلف بد ګڼي

### ۸ - د مسایلو او واقعاتو سره سطحي چلن:

خطبه کې باید د خلکو ژوندانه پورې تړلو مسایلو ته پوره پاملرنه وشي، او خطبه کې یې خطیب ذکر کړي، یوازې ذکر یې کفایت نه کوي باید هغو ته ژوره کتنه وکړي او د هغو د حل عملي لارې چارې ولټوي

۹ . خرافاتو څخه د ډکو کیسو وړاندې کول

په خطبه هغه کیسې وړاندې کول چې نه یې عقل مني او نه یې حکمت منلو ته تیار وي، او شرعي قواعد یې هم دروغ ګڼي، د هغه کیسې د خلکو ترمنځ د اختلافاتو رامنځ ته کېدلو سبب ګرځي، او بل داچې دې سره هغه خلکو کې نا امیدي اوناهیلي پېداکېږي چا چې دا رښتیا ګڼلي وي، او وروسته ورته څرګنده شي چې دا دروغ دي او هیڅ واقعیت نه لري

۱۰ . په خطبه کې یواځې د سلبیاتو بیان

د سلبیاتو بیانول ډېر ځلې هر اسلامي عمل ترسره کولو کې د اورېدونکو او لمونځ کوونکو د ناهیلۍ سبب ګرځي، خطیب باید اورېدونکو کې هیلې راژوندۍ کړي، خو دا باید د مجاملې سترګو پټولو له لارې نه وي، بلکې د حق بیانولو طریقې سره وي، خلکو ته دې د دې داد ورکړي، چې د الله تعالی مدد او مرستې سره به اسلام بریالی شي، ځکه دې باندې ډېر نبوي احادیث دلالت کوي، او دا ورته ووایې مونږ او تاسو د الله تعالی بندګان او لښکریان یو، بې له شکه به الله تعالی زمونږ سره مرسته او کومک کوي

د هیلو پېدا کولو څخه دا مراد نه دي چې د دوی بد عملونه ښه او ښوره وګڼل شي، بلکې دوی ته به نصیحت کوي، او د الله تعالی څخه به دا غواړي چې د ټولو مسلمانانو سینې د حق منلو ته پراخه وګرځوي

۱۱ . د پانې څخه د خطبې لوستل

خطبه باید د پانې څخه ونه لوستل شي، ځکه دا د اسلام څخه مخکې

او د اسلام څخه وروسته د خطيبانو طريقې او عادت سره خلاف کار دی، د پاڼې څخه د خطبې ويل د خطبې وړاندې کولو کې کمزورتيا راولي ، او خلکو باندې ښه تاثير نه کوي، ځکه د پاڼې څخه لوستل خطيب دي ته نه پرېږدي چې د خلکو مخونو ته وګوري او دهغو د مخونو څخه هغوی باندې د خطبې تاثير معلوم کړي، او بل دا چې د پاڼې څخه د خطبې لوستل د خطيب د کمزوري او لتۍ سبب ګرځي، او تاسو وګورئ خلک هغه خطيب ښه نه ګڼي چې کله منبر ته راشي او خپل لاس جيب ته دننه کړي او ليکلي خطبه ترې راوباسي.

**۱۲- د مشهورو خطيبانو تقليد:**

داچې خطيب د مشهور خطيب خطبه حفظ کړي، د هغه اواز او د هغه حرکتونو سره يې وړاندې کړي، او کله داسې وي چې ځينې خطيبان د دغه مشهور خطيب الفاظ او کلمات د هماغه په لهجه وړاندې کړي، خو بياخطبه خپلو افکارو او الفاظو سره پای ته ورسوي، د ده ژبه د هغه مشهور خطيب د ژبې سره ځرګند توپير لري، خلک د دواړو ژبو او فکرونو ترمنځ ډېره فاصله درک کوي، د خطيب دغه کړنه خطبه او د هغې د وړاندې کولو طريقه د خطيب استقلال او شخصيت نه لرلو باندې دلالت کوي، چې دې سره خطيب خلکو کې خپل حيثيت د لاسه ورکوي، نو خطيب بايد دغه عيب د ځان څخه ورک کړي.

**۱۳- د باطل د پلويانو څخه دفاع کول:**

دا هم د خطبې يو منفي تکې دي چې خطيب د خپلې خطبې يوه برخه د طاغوتانو د خطاکانو او د هغوی د هغو جرمونو او ظلمونو څخه دفاع کولو ته وقف کړي، کوم چې دوی په خپل ولس او ملت باندې سرته

رسولي وي.
د دغو طاغوتانو ، د دوی د جاهلي قوانينو او د ظلم څخه ډکو احکامو څخه دفاع کول د خلکو د زړونو او سترګو څخه د خطيب د هيبت او احترام د له منځه تللو سبب ګرځي، او خلک يې بيا ډېري بدی سره يادوي، خطيب بايد په ياد ولري چې د الله تعالی او هغه د بندګانو په وړاندې د ده ځای او مرتبه د نړۍ د ټولو حمکرانانو سره د ځای او مقام حاصلولو څخه غوره ده.

## ۱۴- د باطل دپلويانو مدحه کول:

کمزوري نفسونه او ولېدلي همتونه د باطل پلويانو ته تملق (چاپلوسي) کوي ، د هغوی مدحه او صفت کوي، سره د دې چې د دغو طاغوتانو حقيقت ورته ښه څرګند هم وي، دوی دغه کارونه د دنيا د تمې او شخصي ګټو او مصلحت لپاره دي، تاسو وګورئ فقهاوو نيک سلطان ته هم مجرد دعاء غير مشروع ګڼله او هغې ته يې مکروه ويلې دي، او انکار يې ترې کړي دي ، او دا يې د خپلو خطبو يوه برخه نه ده ګرځولي، دوی ويلي دي: کله چې خطبه کې امام او خطيب سلطان ته دعاء لولي او څوک خبرې وکړي دغه سړی ګنهګار نه دی او هيڅ شی ورياندې نشته، او دې سره د جمعې لغوه کوونکی نه ګرځي، هر کله چې مسئله داسې ده، نو د دې زمانې ځينو خطيبانو دغه ناروا او نوی بدعت ته په خطبو کې د کوم دليل په بناء ځای ورکړی دی؟ چې دوی په خپلو خطبو کې د دغو طاغوتانو مدحه او ستاينه کوي.

دغه خطيبان دې په دې پوه شي هر څه چې وايي: هغه ليکل کېږي او حساب به يې ورکوي، او خلک د دوی په باره کې قضاوت او فيصله

کوي هغوی دغه قضاوت په پټو سترګو نه کوي، د بصیرت په تله دغه خطیبان تلي، نو دغو خطیبانو به ځومره تاوان کړی وي، چې د خلکو د سترګو څخه ولوېږي ، او دې لویه رسوایې او ذلت کې پرېوځي.
او بل داچې خطیب دې په دې پوه وي، چې د الله تعالی د لارې څخه بندول ځو ډولونو سره ترسره کېږي، خو دې کې ډېر بد بندول هغه دي چې دعوت کوونکې خطیب خپل سیرت او د طاغوتانو مدحې کولو سره خلک د الله تعالي د لارې څخه بند کړي.

**۱۵ - خلکو باندې جرح او هغوی ته دفسق نسبت کول:**

دا هم د خطبي د نېمګړتیاوو څخه ده چې کله کوم خطیب د چا بدي بیانوي د هغه نوم اخلي، او د هغوی په ذاتیاتو باندې تېري کوي، که هر چا کې د عقل، ادب او دین څخه څه برخه وي هغوی دغه کار نه کوي، نو مناسب دي چې د مسجد منبر د دې څخه وساتل شي، او خطیب دی، په دې پوه شي د کوم شي څخه چې مونږ دلته منعه کوو او بد یې ګڼو دا د ظالم حکمران په وړاندې د حق ویلو او هغه ته په نیکۍ د امر کولو او د بدۍ څخه یې د منعه کولو د حکم سره په ټکر کې نه دي، په دې باره کې غوره دا ده چې دې ځای کې عام الفاظ وکارول شي او د اشاراتو څخه استفاده وشي، د بېلګي په توګه داسې ووایي، رشوت اخېستل او ورکول ځومره بد عمل دی خو سره د دې نن په کې ډېر مسلمانان اخته دي.

**۱۶ - د اسلام یو اړخ باندې خبرې کول:**

ځیني خطیبان داسې دي چې خپلو خطبو کې یوائې د اسلام یو اړخ تر بحث لاندې نیسي ټولې خطبي یې په همدغه اړخ باندې متمرکزې

وي، لکه ځينې داسې دي چې د اسلام روحي اړخ څېړي، او ځينې داسې دي چې د اسلام سياسي اړخ، او ځينې يې بيا داسې دي چې د اسلام عقيدوي اړخ باندې خبرې کوي او دارنګه د اسلام نور اړخونه د خطيبانو دغه کړنه اورېدونکو کې ناسم فهم منځ ته راوړي، دې سره د اسلام په هکله د اورېدونکو فهم قاصر ګرځي ، د اسلام په باره کې پوره او شامل فهم لاس ته نه راوړي، د مثال په ډول د اسلام روحي اړخ باندې تمرکز اورېدونکو ته دا فهم ورکوي چې اسلام يو روحاني دين دی، د مسلمانانو د عام ژوندانه سره کومه اړيکه نه لري، نو دا د دې سبب وګرځي چې خلک ځانته ناستې ته شوق پېدا کړي، دا ډول ويناوې د صوفيانو مسجدونو کې زياتې تر غوږو کېږي

نو خطيب ته په کار دی چې خپلو خطبو کې د اسلام ټول اړخونه تر نظر لاندې راولي، او په خپل وار هر يو باندې تفصيل سره خبرې وکړي، ترڅو پورې خلک د اسلام په هکله پوره معلومات ترلاسه کړي، او په دې پوه شي چې اسلام يو پوره او مکمل دين دی د ژوند په هره برخه کې بشر ته لارښوونې لري.

## د خطبي تیارول (اماده کول)

هر څوک چې د خطبي د وړاندې کولو اراده لري باید لاندې کارونو ته پاملرنه وکړي:

**لومړی: د اهدافو ټاکل:**

مخکې د دې چې خطیب خطبه برابره کړي باید د ځان څخه پوښتنه وکړي، چې دا کوم اهداف غواړي چې لاس ته یې راوړي، مخکې ترمخه باید د اهدافو تعین وکړي، اهداف ګڼ ډولونه لري چې یو څو یې د بېلګي په توګه لاندې ذکر کوو:

۱- ایا د دې اراده لري چې د هغو بدو او اسلام ضد نظریو اصلاح وکړي کومې چې مسلمانانو کې د اغیارو په ذریعه خپرې شوې دي.

۲- ایا د دې اراده لري چې خلک د هغو عادتونو څخه منعه شي چې اوس په کې اخته دي.

۳- ایا یوې مسئلې باره کې د موقف نیولو په خاطر عام خلک راپورته کول غواړي چې د مظاهري په ذریعه د خپل موقف څرګندونه وکړي.

۴- ایا د دې اراده لري چې د مسلمانانو او یهودیانو ترمنځ هر اړخېز بیلتون منځ ته راوړي.

۵- ایا د دې اراده لري چې دیني مسایلو په اړوند د عامو خلکو ذهنونه روښانه کړي.

۶- ایا د دې اراده لري چې عام خلک د اسلامي شریعت تطبیق باندې قانع کړي.

۷ - ایا د دې اراده لري چې د یو خاص ناروا کوونکي مقابله وکړي، لکه: د ساقي خانې د څښتن مقابله.

۸ - ایا د دې اراده لري چې اسلامي لارښوونو ته د خلکو عام ژوندانه سره ربط ورکړي.

داسې نور ډېر اهداف دي چې خطیب یې د خطبې د تیارولو څخه مخکې ځان سره تعین کړي.

**دویم: د خطبې د موضوع غوره کول:**

د اهدافو د ټاکلو او تعین څخه وروسته د اهدافو نظر کې نیولو په رڼا کې دې د خطبې موضوع غوره کړي، هر هدف سره مناسب موضوع دې غوره کړي، هدف ټاکلو او موضوع غوره کولو سره په اسانۍ سره د خطبې عناصر راټولولی شي.

**دریم: د موادو جمعه کول:**

د هغې موضوع غوره کولو وروسته کومې باندې چې اهداف ترلاسه کېږي، خطیب باید د موادو راټولولو په لټه کې شي:

**الف:** د موضوع اړوند ایتونه دې راټول کړي.

**ب:** د دغه ایتونو باره کې چې مفسرینو څه ویلي د هغوی اقوال دې راجمع کړي.

**ج:** د موضوع په اړوند دې نبوي احادیث را جمع کړي.

**د:** احادیثو د ښه وضاحت په خاطر دې د احادیثو معتبرو شروحو ته مراجعه وکړي.

**و:** د موضوع په اړوند دې د فقهاوو اقوالو څخه ځان خبر کړي.

**څلورم: د معلوماتو تنظيم:**

د مخکنیو ذکر شوو موادو راجمعه کولو څخه وروسته د خطبې د عناصرو موافق دې دغه مواد منظم کړي، هر دلیل دې د خپلې مدعی سره کېږدي، ترڅو پوره ترتیب سره یې اورېدونکو ته وړاندې کړي

**پنځم: ربط او د پایلو معلومول:**

د معلوماتو منظمولو څخه وروسته به هغه احکام راوباسي کوم چې د معلوماتو د وړاندې کولو وروسته په لاس ورځي، او دغه احکامو ته دې د خلکو ستونزو سره ربط او تړاو ورکړي، او دا دې څرګنده کړي چې د اسلامي امت د مسایلو حل دغه کارونو ترسره کولو کې دی

## د يو بريالي خطيب ځانګړتياوې

بريالی خطيب هغه دی چې د دې توان ولري چې خلکو باندې ښه اثر وغورځوي، او کوم اهداف يې چې ټاکلي هغې خوا ته خلک سوق کړي، او دغه خلک د هغوی دنيوي او ديني خير پلو ته متوجه کړي، دغه کارونه د خطيب او د خلکو ترمنځ يو بل باندې د قوي اعتماد او باورلاس ته راوړلو څخه وروسته ښه په لاس راځي، دغه اعتماد د دوی ترمنځ د مينې، محبت، تابعدارۍ او د هر ډول سرښندنې که مادي وي او که معنوي وي روحيه رامنځ ته کوي، دغه اړيکې هغه وخت ډېرې مضبوطې کېږي چې خطيب کې لاندې صفتونه موجود شي.

**١ - علم او پورمعلومات لرل:**

خطيب خلکو ته د علم ښودنه، او خير ته د هغوی لارښوونه کوي، نو مناسب دی چې دا خپله هم د دين په امورو باندې عالم اوسي، او دې باره کې پوره معلومات ولري، ځکه چې د دوی پوښتنو ته ځواب ووايي او د دوی ستونزو ته د حل لارې چارې پيدا کړي، او دا خو ښکاره حقيقت دی چاسره چې څه شی نه وي، هغه به بل ته څه ورکړي ، عربان وايي:

(فاقد الشئ لا يعطيه و کل اناء ينضح بما فيه)

ژباړه: د چا څخه چې څه ورک وي، هغه دغه شی چاته نه شي ورکولي ، او دهر لوښي څخه هغه څه څاڅي چې په کې موجود وي.

د قران کريم ډېر مبارک ايتونه او مبارک نبوي احاديث د علم او تعليم باره کې ترغيب ورکوي، او د علماوو درجې يې ذکر کړې دي،

دا تاته د علم د اهميت ښودنه کوي ، هر مسلمان او په ځانګړې توګه خطيب ته دا په کار دي چې د علم په زيور باندې ځان سينګار کړي ، ځکه د خطيب کار تعليم ، تربيه او لارښودنه ده . نو ده ته خو د علم حاصلول د نورو په پرتله ډېر ضروري دي

که د جمعې خطيب راواخلو نو ده ته په کار دی چې د جمعې، اخترونو ، جنازې، کسوف، خسوف، استسقاء د لمونځونو په احکامو او مسايلو باره کې پوره معلومات ولري، ځکه دې باره کې دا د پوښتنو سره مخامخ کېږي، او خلکو ته د امامت کولو لپاره ضروري علم ګټل کېږي

خطيب بايد د قران کريم د ډېرو ايتونو ، نبوي مبارکو احاديثو، عربي شعرونو ، او متالونو حافظ اوسي، او دغه ايتونو ، احاديثو ، شعرونو او متالونو باندې پوره پوه او د هغوی شرحې او توضيح باندې قادر وي، د دې لپاره چې خطبه کې پرې ښه استدلال وکړي

**۲- په عام ډول د اسلام ټولو احکامو باندې ټېنګ ولاړ وي ، او په خاص ډول هغه احکامو باندې خو به ډېرکلک وي چې خلک ورته رابلي او ورباندې يې تطبيقوي**

خلک د عقل او فکر خاوندان دي ، سترګې لري هغې باندې لېدل کوي ، غوږونه لري پرې اورېدل کوي، ژبې لري پرې خبرې کوي، نو کله چې دوی د خپل مسجد د جمعې خطيب وګوري، کومو نيکو کارونو ته چې خلک رابلي او خپله يې نه ترسره کوي، او د کومو بدو کارونو څخه چې خلک منعه کوي خپله ترې نه منعه کېږي، نو دې سره په ده باندې د خلکو اعتماد او باور له منځه ځي، او خبرې يې په خلکو ښه

تاثير نه کوي او نه يې خبرې د خلکو سره کوم وزن لري.
الله تعالی فرمايلي دي:
﴿اَتَأۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبِرِّ وَتَنۡسَوۡنَ اَنۡفُسَكُمۡ﴾. (البقره : ۴۴)
ژباړه: ايا خلکو ته د نيکۍ امر کوي او خپل ځانونه مو هيرکړي دي.
او په حديث شريف کې راغلي دي: د قيامت په ورځ به يو سړی راوستل شي خپلې کولمې به راوباسي او د جهنم اور کې به وربانديې تاوېږي د دنيا هغه خلک چې دده د وعظ په سبب جنت ته تللي وي، هغوی به ورڅخه پوښتنه وکړي: دغه حال دې د څه وجې نه دی ؟ هغه به ورته ووايي: ما به تاسو ته د نيکۍ امر کاوه او خپله به مي نيکي نه کوله او تاسو به مي د بدۍ څخه منعه کولي او خپله به مې هغه کوله.
الله تعالی دې ابوالاسود الدولي باندې رحم وکړي څه ښه يې ويلي دي:

لا تنـه عـن خلـق و تـاتي مثلـه
عار عليـک اذا فعلـت عظـيم
فابـدأ بنفسـک فانهـا عـن غيهـا
فـاذا انتهـت عنـه فأنـت عظـيم
فهنـاک يقبـل ان وعظـت ويقتـدي
بـالقول منـک و ينفـع التعلـيم

ژباړه: د يو خوی څخه منعه مه کوه، چې خپله هغه کوي، دا تاته پيغور دی چې ته د هغه څخه د ډېر لوی بد کار ترسره کوي، د خپل نفس څخه دې پيل وکړه، هغه د سرکشۍ څخه منعه کړه، که هغه منعه شو نو ته لوي سړي يې، دغه وخت کې ستا وعظ منل کيږي او خلک ستا

وينا پسې ځي او تعليم دې ګټه رسوي

**۳- جراءت او زړورتيا:**

مناسب دي چې خطيب د خلکو په وړاندې د ودرېدلو ، د مسايلو وړاندې کولو، د ستونزو بيانولو او هغوی ته د علاج د لارو چارو لټولو کې زړور او د جرات خاوند اوسي، د ظالم او مستبد د ظلم او استبداد څخه ونه وېرېږي، او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دې وينا باندې پوه وي چې فرمايلي دي:

من اعظم الْجِهَادِ كَلِمَةُ حق عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ.(مسند احمد)

ژباړه: لوی جهاد د ظالم پاچا په وړاندې د حق وينا کول دي.

او ځينې د هغو شيانو څخه چې مونږ پرې خطيب ته نصيحت کوو دا دي: د نورو خلکو په پرتله خطيب بايد د دين په کار کې د ځان او مال قربانۍ ته ډېر تيار وي، او په دې باره کې د خلکو څخه وړاندې وي.

**۴- خطيب بايد د روښانه تاريخ درلودونکی وي:**

کوم خطيب چې خلکو کې ډېر اثر او رسوخ لري هغه دی چې د کبيره ګناه مرتکب نه وي ګرځېدلي، او نه يې کومه بې حياء کړنه ترسره کړې وي، کومه چې د اخلاقو او سيرت د داغ داره کېدلو سبب ګرځي ، او بل دا چې د ده څخه د الله تعالى د دين، مسلمانانو او خپل وطن په اړه خيانت نه وي ثابت شوی، لکه د اسلام د دښمنانو سره د اسلام په ضد باندې مرسته ، او يا د هغه چا سره مرسته او د هغه تائيد کول شوی چې د مسلمانانو او يهودو ترمنځ صلحې راوستلو کې منډې ترړلې وهي، ځکه د خطيب دغه ډول تاريخ دده او د خلکو ترمنځ حايل واقع کېږي، د دې وروسته خلک د ده خبرې نه مني اګر که دا

څومره فصیح او بلیغ هم وي
نو خطیبانو ته په کار دي چې خپل تاریخ ته پوره پاملرنه وکړي، د خپل تاریخ په پاڼو کې د خیر، احسان او د ظالمانو سره د مقاومت پرته نور څه و نه لیکي.

**۵- وینا او عمل کې اخلاص:**

د خطیب خبرې باید د هغه د زړه څخه راوتلې وي، یوازې د حنجرې څخه نه وي راوتلې، او وینا څخه به یې مراد یوازې د الله تعالی د رضا لاس ته راوړل وي، دا به یې مقصد نه وي چې څوک دي یې مدحه او صفت وکړي، او یا څوک وریاندې بد ونه وایي، ځکه الله تعالي یوازې هغه عمل قبلوي چې خالص وي، او الله تعالی د هغه چا وینا ته د خلکو منځ کې د قبول جامه ور اغوندي چې الله تعالی په دې پوه شي چې وینا کوونکې خپلي وینا کې مخلص دي، وینا څخه یې د الله تعالی د رضا حاصلولو پرته بل کوم شي مقصد او مراد نه دی

**۶- خطیب باید د خلکو سره مضبوطې اړیکې ولري:**

خطیب باید د هغه مسجد د خلکو سره مضبوطې اړیکې ولري کوم کې چې د جمعې د خطبې مسؤلیت په غاړه لري، هغوی سره غم او ښادۍ کې پوره ګډون وکړي، د هغوی سره د ستونزو په حل کې مرسته وکړي، او دا ښه کار دی چې ټول هغه کسان وپېژني چې مسجد ته د لمانځه لپاره راځي.

او هغوی سره دې د هغوی په کورونو کې ملاقاتونه ترسره کړي، خو دغه اړیکې باید د عامو مسلمانانو د مصلحت لپاره وي، یوازې د خطیب د شخصي ګټو لاس ته راوړلو لپاره نه وي، ځکه که چېرته

ثابت شي چې دغه ملاقاتونه او تعلقات جوړول خطیب د خپلو شخصي ګټو لپاره کوي، نو دې وخت کې خطیب د خلکو له نظرونو څخه غورځېږي، او خلک پرې نه را ټولېږي او بد وربانديې وايي

۷- څه نه چې خطیب خلک رابلي باید د هغه په ربښتولی باندې خپله هم قانع وي

څکه کله چې خطیب په هغه څه چې خلک ورته رابلي او خلکو ته یې بیان کوي قانع نه وي ، او یقین یې ورباندې نه وي حاصل شوی، نو دا نه شي کولی چې خلکو باندې په هغه اندازه تاثیر وکړي کوم چې دده مطلوب دی، څکه بل ته قناعت ور کول څانته قناعت حاصلولو څخه وروسته وي

۸- د خپلې نظریې او د هغې د خپرولو په باره کې باید ډېر حسا س وي

خطیب ته یوائې دا کفایت نه کوي چې خپلي نظر یې باندې قانع وي، بلکې هغه باید د دې په باره کې ډیر حساس او د دې د خپرولو په باره کې باید پوره متحرک اوسي، او د دې په اړوند باید د ده په زړه کې پوره حرارت او جوش موجود وي، نو دې وخت کې خلک د ده نظریه غوږه کني او د ده بلنه مني او دده مرسته کوونکي کرځي

۹- د خطیب پاکوالی او برابروالی:

خطیب ته مناسب دی، چې بدن او جامې یې پاکې وي، د غسل کولو او څان خوشبویه کولو وروسته مسجد ته راشي ، چې خلکو ته ترې ښکلی بوي ورځي، چې د دې بوی له امله خلکو ته خوښي حاصلېږي او سینې یې پراخه کرځي

او د اسلام مبارک دين هر مسلمان ته دا سنت کرځولي چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او خوشبويې وکاروي، او خطيب خو ډېر حقدار دی، چې دغه عمل ترسره کړي ځکه د شرعي احکامو عملي کولو کې هغه د خلکو مقتدا دی.

امام بخاري رحمه الله خپل کتاب صحيح البخاري کې خپل سند سره د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت نقل کړی دی:

أَن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال : إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الجُمُعَةَ، فَلْيَغْتَسِلْ.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې يو د تاسو څخه د جمعې لمانځه ته راځي نو غسل دې وکړي.

او بل داچې خطيب ته مناسب دی چې د جمعې د لمانځه لپاره د عادي جامې پرته بله خاصه جامه ولري، او دغه جامه به ښه پاکه وي او خطيب به په پوره ډول برابر وي داسې څه به يې په تن نه وي، چې خلک يې عيب کڼي ځکه دا خلکو ته ښه نه ښکاري چې د جمعې د لمانځه پر مهال خطيب داسې حال کې ووينې چې شلېدلې جامې يې په تن وي ، او غوړي يې پر جامو باندې را بهېدلي وي، د دې څخه سليم طبيعت کرکه کوي، دې سره د خلکو په وړاندې د خطيب قدر کمېږي، او خبرو ته يې ډير غوږ نه نيسي، الحمد لله چې نن زمانه کې ډېري خطيبان د دې اړخه پوره دي او ځينو اخوندانو ته دې الله تعالى هدايت وکړي چې ښې جامې د دې لپاره نه په تن کوي چې خلک يې مسکين وګڼي او څه ورته ورکړي.

**١٠- فراست او د استنبا ط قدرت:**

خطيب بايد د ذكاوت خاوند وي، د خبرونو او اوضاعو د تحليل او هغې څخه د عبرت اخېستلو او درس اخېستلو او استنباط توان ولري، او كولى شي چې د دې څخه د خلكو ورځنې ژوندانه كې استفاده وكړي.

**١١- شخصي قوت:**

په خطيب كې د شخصي قوت څخه مراد دا دى، چې د هغه په ذريعه خلكو كې خپل احترام او د هغوى په زړونو كې خپل هيبت پيدا كړي، چې د دې هيبت له امله خلك د ده عزت كوي، او هيڅ بې عقله او احمق پرې جراءت نه شي كولى، نو د دې په خاطر خطيب بايد جدي اوسي د ټوكو او بې ګټې خبرو څخه ځان وساتي، چې بيا به يې خلك سپک ګڼي او ټوكې به ورپسې كوي.

او دا هم د خطيب د شخصيت سره منافي عمل دى، چې خطيب د منبر د پاسه د اړتيا پرته ډېر حركتونه ترسره كوي، په ځانګړې توګه خپلې ږېرې او جامو سره لوبې كول په دې ډول چې د لمونځ كونكو توجه جلب كړي، او هغوى يې ښه ونه ګڼي.

**١٢- د خطيب اواز:**

خطيب بايد د قوي اواز خاوند وي، او ګڼو طريقو سره دې خطبه وړاندې كوي، يو طريقې سره دې يې نه وړاندې كوي، ځكه دا د سترتيا او ستومانۍ سبب ګرځي، او كله خو اورېدونكو ته خوب ورولي، د خطيب اواز د خطبې كلمو ته ژوند وربښي او د اورېدونكو زړونو ته يې دننه كوي، چې زړونو ته د دننه كېدلو وروسته په زړونو

باندې تاثیر کوي
خطیب باید د لوړ اواز څښتن وي د دې لپاره چې اورېدونکي او لمونځ کونکي یې اوازه په ښه توګه واوري او تاثیر پرې وکړي
امام مسلم په صحیح مسلم کې د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روایت نقل کړی، جابر رضي الله عنهما وېلي دي کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه وړاندې کوله، سترګې مبارکې به یې سرې شوي، اواز به یې لوړ شو ، غوسه به یې سخته شوه ، داسې به وو تا به وېل چې یو لښکر وېروي
امام نووي رحمه الله دې حدیث باندې استدلال کړی وېلي یې دي خطیب ته مستحب دی چې خطبه مهمه وګڼي، خپل اوازه لوړ کړي، او هر ځای سره مناسب کلام خلکو ته وړاندې کړي

## د خطبو ډولونه

د اسلام مبارک دین یو پوره او کامل دین دی، د ژوند په هر ډګر کې د بشر لپاره هدایات او لارښوونې لري، اسلام کې ګڼو موضوع ګانو باندې بحث کېږي، چې هر ه موضوع په خپل ځای کې پوره ارزښت لري، او همدارنګه هره موضوع ځانته ځانګړتیاوې لري، نو په همدې اساس د خطابې په علم کې د خطابي علماوو د هر ډول خطبې لپاره اصول او قواعد ټاکلي دي، د خطابې په علم کې د خطبو ډولونه د انسان د ژوندانه د اړخونو په بنا ویشل شوي دي، انسان د خپل ژوند په هره شعبه کې الهي او نبوي لارښوونو ته اړتیا لري، نو څرنګه چې د انسان د ژوند اړخونه یو د بل سره توپیر لري همداسې هر اړخ سره تړلې خطبه د نورو سره توپیر لري، ددغو اړخونو د اختلاف پر اساس د خطابې یو څو اړخونه په لنډ ډول لاندې ذکر کوم.

- روحي خطبې.
- اخلاقي خطبې.
- د نبوي سیرت په اړه خطبې.
- عقیدوي خطبې.
- ټولنیزې (اجتماعي) خطبې.
- د کورني نظام په اړه خطبې.
- سیاسي خطبې.

**یادونه:**

د پورته ذکر شوو خطبو د وراندې کولو طریقې خپلو کې سره ډېر توپیر لري، ځکه د هرې یوې خطبې موضوع ګانې یو بل سره توپیر

لري او دې خطبو کې د هرې خطبي اورېدونکي د بلې خطبي سره د علم او پوهې او ذکاوت په اعتبار هم توپېر لري، قاعده او قانون دا دی چې هر چاسره د هغه د عقل مطابق باید خبرې وشي، چې د هرې يوې د وراندې کولو طریقو بیانولو سره دغه لیکنه ډېره اوږدېږي نو د اورېدوالې د وېري له امله مې دغه طریقې دلته ذکر نه کړې، او یوازې هغه موضوعات مې راوړي دي، چې مونږ ترې ورځنې ژوند کې ګټه اخېستلی شو، چې د ځینې موضوع ګانې په لاندې ډول سره ذکرشوي دي.

## د روحیاتو اړوند خطبو ځینې موضوعات

۱- د الله تعالی ذکر.

۲- تقوا.

۳- مرګ.

۴- اخلاص.

۵- لمانځه کې خشوع.

۶- د لمانځه اسرار او حکمتونه.

۷- د زکات اسرار او حکمتونه.

۸- د روژي اسرار او حکمتونه.

۹- د حج اسرار او حکمتونه.

۱۰- د قران کریم تلاوت.

۱۱- استغفار.

۱۲- توبه.

۱۳- دعاء.
۱۴- جنت او نعمتونه يې.
۱۵- جهنم او عذابونه يې.
۱۶- د عاشورا ورځ او هغې کې د روژې فضيلت.
۱۷- د قبر عذاب.
۱۸- قيام الليل.
۱۹- د جماعت د لمانځه فضيلت.
۲۰- د جمعې د لمانځه اداب.
۲۱- د دوه اخترونو د لمانځه احکام او اسرار يې.

## د اخلاقو اړوند خطبو ځينې موضوعات

۱- رښتيا او دهغې ګټې.
۲- دروغ او زيانونه يې.
۳- غيبت.
۴- چغلي.
۵- نورو خلکو باندې مسخرې کول.
۶- بد ګمان.
۷- د دروغو ګواهي.
۸- ښه اخلاق.
۹- صبر.
۱۰- ايثار او قرباني.
۱۱- تواضع.

۱۲- استقامت.
۱۳- بده وینا او د ژبې بې ځایه کارول.
۱۴- د بدو عادتونو څخه خلک منعه کول.
۱۵- خلکو ته د ښو عادتو د ګټو بیان او هغې ته یې تشویقول.
۱۶- سخا او د هغې فضیلت.
۱۷- مه غوسه کیږه.
۱۸- د اختلاط خطرونه او زیانونه.
۱۹- مصارفو کې میانه روي.
۲۰- د لارې او هغې باندې د تګ اداب.
۲۱- حیاء.
۲۲- نیکه وینا او یا چپ پاتې کېدل.

## د نبي کریم صلي الله علیه وسلم د سیرت په اړه موضوعات

۱- د سیرت د زده کړې اهمیت.
۲- د نبوي سیرت ځانګړتیاوې
۳- رسول الله صلی الله علیه وسلم د تربیت کوونکي په حیث
۴- رسول الله صلی الله علیه وسلم د قاید او لارښود په حیث
۵- رسول الله صلی الله علیه وسلم د قاضي په حیث
۶- رسول الله صلی الله علیه وسلم د سیاسي مشر په حیث
۷- رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت کوونکي په حیث
۸- رسول الله صلی الله علیه وسلم د تجارت کوونکي په حیث
۹- رسول الله صلی الله علیه وسلم د د جګړې د طرحه کوونکي په حیث

۱۰- رسول الله صلی الله علیه وسلم د زاهد په حیث
۱۱- رسول الله صلی الله علیه وسلم د صبر کوونکي په حیث
۱۲- رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت کوونکي په حیث
۱۳- د بشر په ژوندانه کې د بعثت اثر
۱۴- اسراء او معراج.
۱۵- نبوي هجرت.
۱۶- د نبوي هجرت پایلي
۱۷- د بدر نه مخکې سرایاوو څخه زده کړې
۱۸- د بدر غزا او د هغې څخه زده کړې.
۱۹- د بنو قینقاع غزا او د هغې څخه زده کړې.
۲۰- د احد د غزا څخه زده کړې
۲۱- د بني نضیر د غزا څخه زده کړې
۲۲- د احزاب (خندق) غزا څخه زده کړې
۲۳- د بني قریظه د غزا څخه زده کړې
۲۴- د حدیبي د صلحې څخه زده کړې
۲۵- د مکې فتحه او هغې څخه زده کړې
۲۶- د مؤته غزا
۲۷- د تبوک د غزا څخه زده کړې
۲۸- د ضرار مسجد ونه
۲۹- د خیبر غزا او دهغې څخه زده کړې
۳۰- پا چایانو او امیرانو ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لیکونه او تړې زده کړې.

۳۱- د حبشې د هجرت څخه زده کړې
۳۲- طائف ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفرڅخه زده کړې.
۳۳- د دویمې عقبې د بیعت څخه زده کړې.

## د عقیدې اړوند خطبو ځینې موضوعات

۱- الله تعالی باندې ایمان عقلي او فطري ضرورت دی.
۲- هغه پرده چې د خلکو او الله تعالی باندې د ایمان لرلو ترمنځ حایل واقع کېږي.
۳- د لااله الاالله د مبارکې کلمې معنا.
۴- حاکمیت د الله تعالی حق دی.
۵- عقیده انسان وړي څخه هیلې پلو ته بیایې.
۶- عقیده انساني عقل ته د خرافاتو او وهمونو څخه نجات ورکوي
۷- عقیده انسان ته د مخلوق د بندګۍ څخه خلاصون په برخه کوي
۸- د عقیدې اړیکې مضبوطې اړیکې دي
۹- د اسلامي تصور بنسټونه
۱۰- اسلامي عقیده په انسان کې ویښ او ژوندی ضمیر پیدا کوي
۱۱- اسلام کې د عبادت مفهوم
۱۲- د قیامت وړې علامې.
۱۳- د قیامت لوې علامې
۱۴- اسلام د عقیدې او شریعت نوم دي.
۱۵- د اسلامي رسالت ځانګړتیاوې.
۱۶- انساني نفس کې د تقدیر د عقیدې اثر.

۱۷- د قیامت د ورځې حالات.
۱۸- په فرښتو باندې د ایمان لرلو او د هغوی د دندو پېژندلو اثر په نفس او ټولنې باندې
۱۹- قران کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم تل پاتي معجزه ده
۲۰- د پخوانیو کتابونو په خلاف قران کریم د تحریف څخه پاک دی.

## د ټولنېزو (اجتماعي) اړیکو اړوند خطبو ځینې موضوعات

۱- د مسلمان حقوق
۲- د ګاونډي حقوق
۳- د خپلوانو حقوق
۴- د مور او پلار حقوق
۵- د سفر اداب
۶- د خبرو اداب
۷- د اجازې غوښتلو اداب
۸- د الله تعالی په لار کې د مال لګول
۹- د یتیم کفالت کول.
۱۰- د خلکو ترمنځ صلحه او اصلاح راوستل.
۱۱- ظلم د قیامت په ورځ د تیارو سبب ګرځي
۱۲- ورورولي، حقوق یې او اداب یې
۱۳- د الله تعالی په وړاندې غوره ستاسې تقوا لرونکې ستاسې دي

۱۴- د نیکۍ او تقوا په کارونو کې مرسته کول.
۱۵- امانت د هغه اهل ته سپارل.
۱۶- ښکه معامله.
۱۷- ښه غوښتنه.
۱۸- د محتاج سره مرسته کول.
۱۹- الله تعالی تر هغه د بنده مرسته کوي ترڅو چې هغه د خپل ورور مرستې کې مشغول وي.
۲۰- عفوه د توان او قدرت وخت کې وي.

## د کورني ژوند برابرولو اړوند خطبو ځینې موضوعات

۱- نکاح ته تلوار او رهبانیت سره جګړه
۲- د نیکې میرمنې ځانګړتیاوې.
۳- د میرمنې د غوره کولو بنسټونه.
۴- د میرمنو د ړوالې او حکمتونه یې.
۵- د میرمنې حقوق او واجبات.
۶- د خاوند حقوق او واجبات.
۷- مهرونو کې اسانوالې.
۸- پلار باندې د زوی حقوق
۹- د بچیانو د تربیت فضیلت.
۱۰- هغه څه چې د یتیمانو پر وارثینو باندې واجب دي چې ترسره یې کړي
۱۱- یتیمان د هغوی د اولیاوو سره د امانت حیثیت لري

۱۲- د میراث د نظام اسرار او د هغه ګټې
۱۳- اسلام کې د ښځې مقام
۱۴- ښځه د خاوند غوره کولو کې پوره ازادي لري
۱۵- ښځه د خپل خاوند د کور ساتونکې او مسؤله ده.
۱۶- اسلامي شریعت کې د میراث د نظام ځانګړتیاوې
۱۷- د کورنۍ اهمیت
۱۸- د نسل تنظیم
۱۹- زده کړه کې د ښځي حق
۲۰- میراث څخه د ښځې محرومه کرځول.

## د سیاسي پوهې اړوند خطبو ځینې موضوعات

۱- نیکۍ باندې امر او د بدۍ څخه منعه کول.
۲- عدل او مساوات.
۳- تابعداري.
۴- اسلام کې شورى.
۵- د انسان د کار حق.
۶- سیاسي ازادي.
۷- علمي ازادي.
۸- دیني ازادي.
۹- د اوسېدو ازادي.
۱۰- د انتقال او چېرته تللو ازادي.
۱۱- د بیان ازادي.

۱۲- د اسلامي دولت رامنځ ته کېدل
۱۳- د حاکم د ټاکلو حکم
۱۴- په اسلام کې د حاکم واجبات او حقوق
۱۵- هرڅوک چې په داسې حالت کې مړشي چې بیعت یې نه وي کړی مړینه یې د جاهلیت ده
۱۶- جهاد
۱۷- د شهید مقام
۱۸- په اسلام کې د جنګ اداب
۱۹- د ذمیانو په باره کې د اسلام دریځ
۲۰- د ذمیانو سره د اسلام چلند
۲۱- د اسلامي ټولنې ځانګړتیاوې
۲۲- یو منکر (نارواکار) ته څرنګه تغیر ورکول کېږي
۲۳- اسلام کې د ډلیز کارترسره کولو وجوب
۲۴- د ظالم ولایت
۲۵- اسلام کې ځان سره حساب کول
۲۶- د کافرانو سره دوستي
۲۷- د دولت د مشر لرې کول
۲۸- د شورى د اهل ځانګړتیاوې
۲۹- اسلام پوره دین دی تجزیه نه مني
۳۰- د یهودو سره د صلحې او هغوی ته په فلسطین اویا د ځمکې په کومې بلې برخه کې د دولت جوړولو حکم

## د ځینو غوره خطبو بیلګې

### حجة الوداع خطبة

أيها الناس اسمعوا قولي فاني لا آدري لعلي لا آلقاكم بعد عامي هذا بهذا الموقف أَبدا ان دماءكم وأَموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا آلا كل شئ من آمر الجاهلية تحت قدمي موضوع و دماء الجاهلية موضوعة و ان أَول دم أضع من دماء نا دم ربيعة بن الحارث و كان مسترضعا في بني سعد فقتله هذيل و ربا الجاهلية موضوع و اول ربا أضع من ربانا ربا عباس بن عبدالمطلب فانه موضوع كله فاستغفروا الله في النساء فانكم أخذتموهن بامانة الله و استحللتم فروجهن بكلمة الله و لكم عليهن أَن لا يوطئن فرشكم أَحدا تكرهونه فان فعلن ذلك فاضربوهن ضربا غير مبرح و لهن عليكم رزقهن و كسوتهن بالمعروف و قد تركت فيكم ما لن تضلوا بعده ان اعتصمتم به كتاب الله.

ايها الناس انه لانبي بعدي و لا أَمة بعدكم الا فاعبدوا ربكم و صلوا خمسكم ، و صوموا شهركم ، و ادو زكاة أَموالكم ، طيبة بها انفسكم ، و تحجون بيت ربكم، و أَطيعوا ولات أَمركم تدخلوا جنة ربكم و أنتم تسألون عني فما أنتم قائلون ؟ قالوا: قد بلغت و اديت و نصحت.

فقال باصبعه السبابة يرفعها الي السماء و ينكتها الي الناس : اللّٰهمّ اشهد : ثلاث مرات.

ژباړه ای خلکو! زما خبره واورئ زه نه پوهېږم کېدای شي د سږ کال وروسته دې ځای کې بیا هیڅکله سره ونه ګورو.

باور وکړئ چې ستاسې وینې او مالونه یو پر بل داسې حرام دي لکه نن ورځ چې ستاسې په دې میاشت او په دې ښار کې حرامه شوې ده.

باید تاسې ته په ډاګه وي چې د جاهلیت هر څه ما له پښو لاندې کړي دي ان تر وینو پورې یې باییزه اعلانوم ، زه تر هر چا لومړی خپلې وینې چې د ربیعه بن الحارث وینې دي توی اعلانوم (ربیعة د بني سعد په منځ کې شیدې خوړلي وې او د یوه هذیلي له لاسه ووژل شو) او هم د جاهلیت د زمانې سود خوړل ناروا ګڼم ، په دې برخه کې تر هر چا د خپل کاکا عباس بن عبدالمطلب سود خوړل بندوم او په ډاګه وایم چې هغه ټول توی ولاړ.

هو باید د ښځو په هکله د الله تعالی څخه و ویرېږئ تاسې د الله تعالی په نوم هغه خپلې کړي او ځانو ته مو روا کړي دي.

دا ستاسو حق دی چې هغوی به نامحرمه سړي ( او هغه چې تاسې یې خوښ نه بولئ) ستاسې خوب ځای ته نه راولي او که دا کار یې وکړ ویې وهئ خو له حد څخه ډېر نه هغوی حق لري، چې تاسې به ورته خوراک او پوښاک د توان په اندازه ورکوئ، تاسې ته مې یو لاربنود پرېښې دی که منګولې مو پرې خښې کړي هېڅکله به لار ورکه نه کړئ، یوه شئ چې دا د الله کتاب دی.

ای خلکو! له مانه وروسته بل پیغمبر نشته او نه له تاسې وروسته بل

امت شته، باید د خپل الله تعالی عبادت وکړئ، پنځه وخته لمونځونه وکړئ، د روژې میاشت مو روژه ونیسئ د خپلو مالونو زکاتونه په خوښی سره ورکړئ، د خپل الله د خونې حج وکړئ، د خپلو واکمنو تابعداري وکړئ، او د خپل الله تعالی جنت ته دننه شئ
ای خلکو: ستاسو څخه زما په هکله پوښتنه کېږي، نو تاسو به ورته څه وایئ؟ ټولو وویل: مونږ شاهدي وایو چې تا د الله تعالی پیغام رسولی، دنده دې پوره او د خلکو ښیګڼه دې غوښتې ده.
رسول الله صلی الله علیه وسلم مسواکۍ ګوته د اسمان په لور پورته بیایې خلکو ته یې اشاره وکړه او درې ځله یې وویل:
ای الله ګواه اوسه: ای الله ګواه اوسه! ای الله ګواه اوسه!

**د ابوبکر رضي الله عنه خطبه:**

د قیس بن حازم څخه روایت دی: یوه ورځ ابوبکر رضي الله عنه خطبه وړاندې کوله، ویې ویل: اي خلکو!
تاسو دغه ایت کریمه لولئ او هغه معني ترې اخلئ کومه چې د الله تعالی ترې مراد نه ده:
﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾. (المايده: ۱۰۵)
ژباړه: ای مؤمنانو! لازم کړئ پر ځانونو اصلاح د خپلو ځانونو هیڅ زیان نه رسوي تاسې ته ګمراهي د هغه چا چې ګمراه شوي دي کله چې تاسې په سمه لار (هدایت) اوسئ.
ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې:

هرکله چې دغه خلک خپلو منځونو کې ناروا کړنه او عمل وګوري، او منعه يې نه کړي او انکار ترې ونه کړي، نږدې دي چې الله تعالى به ټول په غذاب کې شريک کړي، او ټولو ته به غذاب ورسوي.
او اوسط البجلي رضي الله عنه څخه روايت دی ويلي يې دي: ابوبکر رضي الله عنه خطبه وړاندې کړه هغې کې يې وويل:
په لومړي ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم زما په دغه ځای باندې ولاړ وو، بيا ابوبکر رضي الله عنه وژړل، بيا يې وويل:
رښتيا ويل ځانونو باندې لازم وګرځوئ، ځکه رښتيا د نيکۍ سره مل وي او دواړه په جنت کې دي، او ځانونه د دروغو څخه وساتئ ځکه دروغ د بدۍ سره مل کېږي او دواړه په جهنم کې دي، او د الله تعالى څخه د عافيت غوښتنه کوئ، ځکه پر الله تعالى د يقين ترلاسه کولو وروسته د عافيت څخه غوره څه نشته دی.
بيا يې وويل: خپلوي مه پرې کوئ، يو بل ته مه شاکوئ، يوبل سره بغض او کينه مه کوئ، د الله تعالى بندګان او يوبل سره ورونه جوړ شئ.

**د عمر رضي الله عنه خطبه:**

کله چې عمر رضي الله عنه شام ته دننه شو د حمد او ثنا څخه وروسته يې خطبه وړاندې کړه، د وعظ، پند، نيکيو باندې امرکولو، او بديو څخه د منعه؛ کولو ورسته يې وويل:
يقيناً رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ په منځ کې د خطبې په حالت کې داسې ولاړ وو، لکه: زه چې تاسو کې ولاړ يم، نبي کريم صلى الله عليه وسلم، تقوا، صله رحمي، خپلو کې جوړ جاړی، باندې

مو چې توان رسيږي ، خپل عمرونه د خير او نيکۍ کولو کې تېر کړئ، ځکه تاسې دنيا ته راغلي ياست د ډېر سهارونه او ماښامونه در باندې تېر شوي دي ، او دنيا ټوله دوکه ده ، نو دغه معمولي ژوند چې د دنيا ژوند دي دا دې تاسو دوکه نه کړي ، او نه دې بل دوکه کوونکی تاسې د الله تعالی د ياد څخه غافله کړي، د هغو کسانو څخه عبرت واخلئ چې تاسو څخه مخکې تللي دي، نو نيک عملونه وکړئ او غفلت مه کوئ، ځکه اجل تاسو څخه نه غافله کيږي، چېرته دې د دنيا هغه زامن او ورونه چې دنيا يې غوره کړي او اباده کړي وه ، او ډېره موده ګټې يې ترې اخيستي وي، ايا هغوی سره خبرې نه کوي؟ دنيا هغه ځای ته ګذار کړئ چېرته چې الله تعالی ګذار کړې ده، او د اخرت طلب وکړئ ، الله تعالی د دنيا او د هغه څه چې د دنيا څخه غوره دي مثال وړاندې کړي دي فرمايلي يې دي:

﴿وَ اضۡرِبۡ لَهُمۡ مَّثَلَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا كَمَآءٍ اَنۡزَلۡنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخۡتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الۡاَرۡضِ فَاَصۡبَحَ هَشِيۡمًا تَذۡرُوۡهُ الرِّيٰحُ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ مُّقۡتَدِرًا ۝ اَلۡمَالُ وَ الۡبَنُوۡنَ زِيۡنَةُ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۚ وَ الۡبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيۡرٌ عِنۡدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّ خَيۡرٌ اَمَلًا ۝﴾. (الكهف:٤٥-٤٦)

ژباړه: بيان کړه دوی ته مثال د دې ژوندون لږ خسيس، په مثل د هغو اوبو دي چې نازلې کړي دي مونږ د اسمان له طرفه نو دې اوبو سره د ځمکې نباتات ګډوډ رازرغون شي، بيا سباته دغه زرغون شوي نباتات وچ او مات مات شي چې بادونه يې وړي او الله تعالی هر شي باندې قادر ذات دی، مال او زامن د دغه خسيس ژوند ښکلا او ښايست دی، او تل پاتې کېدونکي نيک عملونه د الله تعالی په

مو چې توان رسيږي ، خپل عمرونه د خير او نيکۍ کولو کې تېر کړئ، ځکه تاسې دنيا ته راغلي ياست ډېر سهارونه او ماښامونه در باندې تېر شوي دي ، او دنيا ټوله دوکه ده ، نو دغه معمولي ژوند چې د دنيا ژوند دي دا دې تاسو دوکه نه کړي ، او نه دې بل دوکه کوونکی تاسې د الله تعالی د ياد څخه غافله کړي، د هغو کسانو څخه عبرت واخلئ چې تاسو څخه مخکې تللي دي، نو نېک عملونه وکړئ او غفلت مه کوئ، ځکه اجل تاسو څخه نه غافله کېږي، چېرته دې د دنيا هغه زامن او ورونه چې دنيا يې غوره کړي او اباده کړي وه، او ډېره موده ګټې يې ترې اخېستي وي، ايا هغوی سره خبرې نه کوي؟ دنيا هغه ځای ته ګذار کړئ چېرته چې الله تعالی ګذار کړې ده، او د اخرت طلب وکړئ ، الله تعالی د دنيا او د هغه څه چې د دنيا څخه غوره دي مثال وړاندې کړي دي فرمايلي يې دي:

﴿وَ اضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا۝ اَلْمَالُ وَ الْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَ الْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّ خَيْرٌ اَمَلًا۝﴾. (الكهف:٤٥-٤٦)

ژباړه: بيان کړه دوی ته مثال د دې ژوندون لږ خسيس، په مثل د هغو اوبو دي چې نازلې کړي دي مونږ د اسمان له طرفه نو دې اوبو سره د ځمکې نباتات ګډوډ رازرغون شي، بيا سباته دغه زرغون شوي نباتات وچ او مات مات شي چې بادونه يې وړي او الله تعالی هر شي باندې قادر ذات دی، مال او زامن د دغه خسيس ژوند ښکلا او ښايست دی، او تل پاتې کېدونکي نيک عملونه د الله تعالی په

وراندې د ثواب او امید او هیلې له مخې ډېر غوره دي

**د علي رضي الله عنه خطبه:**

یوه ورځ علي رضي الله عنه خطبه وړاندې کړه، د حمد او ثنا څخه وروسته یې وویل:

امابعد! دنیا روانه ده او تېره شوه، او مخه ښه یې اخیستي ده، او اخرت مخې ته راروان دی، او هر کلی کوي، نن د سفر د سامان ترلو لپاره اواز کېږي، سبا ته سفر دی، نن ستاسو د عمل ورځې دي، دې څخه وروسته مو اجل راروان دی، نو چاچې د اجل د راتللو څخه مخکې د عمل ورځو کې کمي وکړ او عمل یې ونه کړ، نو هیلو او امیدونو کې یې تاوان وکړو، خبر اوسئ، څرنګه چې د تکلیف او تنګسي په وخت کې د الله تعالی عبادت کوي هماغسې یې د خوښۍ او اسودګۍ په وخت کې هم وکړئ، خبر اوسئ زه د جنت غوندې یو شی نه وینم چې طلب کونکې یې ویده وي، او زه د جهنم غوندې څه شی نه وینم چې ترې تښتېدونکی یې ویده وي، او چا ته چې حق ګټه ونه رسوي نو باطل ورته ضرر رسوي، او د چا چې استقامت او هدایت په برخه نه شي، ګمراهي یې ګاونډ کې ځای نیسي.

ای خلکو! دنیا یو حاضر شی دی، نیک انسان او فاجر (بدکاره) انسان دواړه ترې خوراک کوي، او اخرت ریښتونې وعده ده، چې د قدرت څښتن پاچا الله تعالی یې فیصله کوي، او شیطان تاسې د فقر څخه وېروي او بې حیایې باندې درته امر کوي، او الله تعالی درته خپلې خوا څخه د ښښنې او مهربانۍ وعده درکوي، الله تعالی د لوی رحمت خاوند او پوه ذات دی.

ای خلکو! خپلو عمرونو کې ښه کارونه وکړئ، او عقبا ته یې وساتئ،

ځکه الله تعالی هغه چاسره د جنت وعده کړي چې د هغه تابعداري یې کړې وي، او هغه څوک یې د اور څخه وېرولي چې د ده نافرماني کوي، دا داسې اور دی چې سکروټې یې نه مري، او بندي یې خلاصون نه مومي ، ګرمي یې ډېره سخته ده ، او کندي یې ډېري ژورې دي، اوبه یې ویني او زه وې دي ، او ماسره ستاسو باره کې د دې وېره ده چې تاسو به د نفس د غوښتنو تابعداري وکړئ او امیدونه به مو اوږده شي.

تاسو وګورئ پورته ذکر شوي خطبې څومره لنډې دي، او څومره جامع معناګانې په کې بیان شوي دي، دا مې د دې لپاره ذکر کړې، چې زمونږ خطیبان ورونه هم داسې لنډې او جامع خطبې وړاندې کړي، او دې لپاره غوره کلیمې او الفاظ را پیدا کړي، او د نورو عملونو په څېر خطبو کې هم د خپلو اسلافو تابعداري وکړي.

همداسې د نورو اصحاب کرامو او تابعینو غوره خطبې د خطابې په کتابونو او د شریعت نورو کتابونو کې موندل کېږي، باید ورته مراجعه وشي ، ځکه ډېري خوندوري خبرې په کې شته په کې شته او علم ترې ترلاسه کېږي، دلته همدغه څو د غوره خلکو د خطبو بیانولو باندې بسنه او اکتفا کوو ، او همدې سره خپل بحث هم پاي ته رسوو ، الله تعالی دې زما دغه کوښښ د خپلې رضا او زما د ګناهونو دله منځه وړلو او جنت ته د تللو سبب وګرځوي .

پای

# ماخذونه

۱- الخطابة اصولها، تاريخها في ازهر عصورها عندالعرب، ليکوال: الامام ابوزهره د چاپ ځای : مکتبه دارالفکرالعربي د چاپ کال: ۱۴۱۰ هـ ق.

۲- المساجد، ليکوال: دوکتور حسين مؤنس، د چاپ ځای: مکتبه عالم المعرفة د چاپ کال: ۱۴۱۵ هـ ق.

۳- التاثير في الجماهير عن طريق الخطابة، ليکوال: ډيل کارينګي، د چاپ ځای: مکتبه دارالفکر العربي، ترجمه: رمزي يسی - عزت فهيم صالح د چاپ کال: ۱۴۱۵ هـ ق.

۴- فن الخطابة واعداد الخطيب، ليکوال: الشيخ علي محفوظ عضو هيئة کبارالعلماء، د چاپ ځای : مکتبه دارالاعتصام د چاپ کال: ۱۴۲۵ هـ ق.

۵- نفحات من منبر رسول الله صلی الله عليه وسلم، اعداد: عبدالباري بن عواض بن علي الشبيتي، د چاپ ځای: مکتبه دارالخراز د چاپ کال: ۱۴۲۸ هـ ق.

۶- هداية المرشدين الی طريق الوعظ اوالخطابة، ليکوال: الشيخ علي محفوظ، د چاپ ځای: مکتبه دارالاعتصام د چاپ کال: ۱۴۲۲ هـ ق.




Download from: aghalibrary.com

Designed by: Ab. Hadi Asar

چاپ چاري
د مسلم خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه
۰۷۹۲۰۳۰۶۷۷ - ۰۷۹۳۰۷۳۰۸۰
muslim_pub@yahoo.com